۳- اُمّ القرآن :-

دې سورة ام القرآن یا ام الکتاب هم ویل شوی دی ځکه د دغه سورت مضمون د قرآنکریم اصل او اجمال دی.

٤- السبع المثانی :-

دې سورت ته السبع المثانی هم ویل شوی دی یعنی اووه ایتونه چه تکرار شوي دي. او لکه څرنګه چه کوره د اسوټ اوه ایتونه لري او په لمانځه کښې په تکرار سره ویل کیږي.

۵- شفاء :

دې سورت ته له دې کبله شفاء ویل شوی دی چه غیرله مرګه د نورو ټولو درد ونو او مرضونو لپاره شفا دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه د پیرزیات مهربان پوره رحم لرونکی دی.

د فاتحې د سورت ژباړه :-

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۝

ترجمه :- ټولې ستاینې خاص الله جل جلاله لره دی چه پالونکی د عالمیانو (د خپل لوی حکمت له مخه) دی.

تفسیر :- د مخلوقاتو مجموعې ته عالم وائې نو له دې کبله دجمعې په شکل نه راوړل کیږي مګر په دې ایت کښې د عالم د هرجنس د ښودلو د پاره د جمعې په شکل راغلی، لکه د انسانانو عالم، د ملائیکو عالم، د پیریانو او نورو عالم.

الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ -

ترجمه : د پیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی.

مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ -

ترجمه :- څښتن د تولو امورو ، د ورځې د جزا دی.

تفسیر :- پاک خدای (جل جلاله) د هرشي څښتن دی د جزا د ورځې د تخصیص اوله وجه داده چه په هغه ورځ به داسی لوئې او ویرونکی پیښې واقع شي چه د هغو په شان به نه پخوا نیږې شوي وي او نه به وروسته راشي لکه هغه سخته زلزله چه توله ځمکه او ابادی به ورانی کړي اسمان به توته توته شي او داسې نور شیان.

او بله وجه ئې دا ده چه په هغه ورځ به د الله تعالی د پاک ذات له حقیقی حکومت څخه پرته د بل هیچا کوم ظاهري او مجازي واک او حکومت هیڅ نه وي. لکه چه پاک خدای (جل جلاله) فرمائي :

لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ -

یعنی نن ورځ (د قیامت په ورځ) پاچاهي د چا لپاره ده ؟

هیڅوک جواب نشي ورکولای ، بیا به خپله فرمائي (لِلّٰهِ الْوَاحِدِ-الْقَهَّارِ) یعنی ټوله پاد شاهي خاص د یوه خدای لپاره ده چه قهار دی .

اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ -

ترجمه :- خاص تا ته عبادت کوو . او خاص له تا څخه مرسته غواړو .

تفسیر :- له دې مبارک ایت څخه معلومیږي چه د الله تعالی له پاك ذات نه پرته د بل چا څخې مرسته غوښتل بیخي روا نه دی مګر که څوک کوم بنه او نیک عمله او د الله (جلّ جلاله) درباره ته مقرب بنده (لکه حضرت پیغمبر (ص)، صحابی (رض)، ولی (رح)، غیر مستقل وکښي او یواځې په ظاهري او غیر حقیقي ډول محض د الله (جلّ جلاله) د رحمت د وسیلې په توګه ترې مرسته وغواړی باك نه لري[1]، ځکه دغه ډول مرسته غوښتل هم په حقیقت کښې د الله (جلّ جلاله) څخه مرسته غوښتل دي .

---

(۱) کابلی تفسیر

په دې ډول مرسته په حقیقت کښې توسل دی[1] ! او هغه دوه قسمه دی :

۱- توسل په نیکوعملونو لکه لمونځ، صبر او نورو . د دې ډول توسل په روا والي کښې هیڅ شک او شبه نشته او ځکه په دې هکله په قرآنکریم کښې صریح ایت وجود لري !

« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ »[2] یعنی ای مومنانو ! مرسته وغواړئ په واسطه د صبر او لمانځه »

۲- دوهم قسم توسل یعنی دخدای پاك نیك بندګان وسیله کرځول هم جواز لری ځکه چه جواز ئې په صحیحه وو احادیثوسره ثابت شوی دی.[3]

---

(۱) توسل دیوه کار د اجراء او یاکوم مشکل د حل لپاره یوه شخص او یاکوم سړی واسطه کول دی .

(۲) د بقری سورت / ٤٥

(۳) توسل په پیغمبرانو او نیکو بندګانو په روایات شمیر صحیحه احادیثوسره ثابت شوی دی چه مونږ په دې ځای کښې یواځې دوه حدیثه نقل کوو :

الف : د حضرت عمر فاروق (رض) د خلافت په زمانه کښې د وچکالی په سبب قحطی راغله حضرت بلال بن حارث د پیغمبر صلی الله علیه وسلم قبرته راغی او وئې ویل :- یارسول الله ! « اِسْتَسْقِ لِأُمَّتِكَ فَإِنَّهُمْ قَدْ هَلَكُوا » یعنی ای پیغمبره (ص) ! د امت لپاره دې باران وغواړه ، دوی نژدې دي چه مړه شي، (پاتی په بله پاڼه کښې)

اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ -

ترجمه :- وښيه مونږ ته لاره سمه .

صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ -

ترجمه :- لاره د هغو کسانو چه انعام کړی تا په هغو باندې .

تفسير :- پر هغو کسانو چه انعام شوی دی څلور طايفې دي :

بياده پيغمبر صلی الله عليه وسلم په خوب ولیده چه ورته ئې وفرمائيل، څرګنده چه باران به وشي نوله دې ثابته شوه چه صحابي د پيغمبر ﷺ په قبر توسل کړی دی او د صحابي عمل د جواز دليل دی .

علاوه له دې په دې عمل کښې سکوتي اجماع هم موجوده ده، لپاره د دې چه بلال دا عمل د نورو اصحابو په حضور کښې وکړو او هيڅا د غه عمل رد نه کړو. د غه حديث بيهقي او ابن شيبه په صحيح سند سره ذکر کړی دی او همدارنګه امام بخاري په تاريخ کبير او ابن حجر او نورو هم روايت کړی دی .

(ب) :- د حضرت انس (رض) څخه روايت شوی دی کله چه اصحاب کرام (رض) په قحطی اخته شول حضرت عمر (رض) حضرت عباس (رض) وسيله وګرځاوه او د باران طلب ئې وکړو او داسی دعا ئې کوله : اَللّٰهُمَّ اِنَّا كُنَّا نَتَوَسَّلُ اِلَيْكَ بِنَبِيِّنَا فَتَسْقِيْنَا وَ اَنَا نَتَوَسَّلُ بِعَمِّ نَبِيِّنَا فَاسْقِنَا فَسُقُوْا -

ترجمه :- خدايه ! مونږ به ډخپل پيغمبر صلی الله عليه وسلم توسل کاوو بياخړوبيدلو، مونږ اوس د پيغمبر (ص) په تره توسل کوو پس مونږه خړوبه کړه . راوي وائي : پس له دغې په دوی باندې خدای (جل جلاله) باران راواستاوه چه ټول خلق ارام شول - د غه روايت بخاري د لمړي ټوک په (۱۳۷) مه صفحه کښې روايت کړی دی . علاوه له بخاري نورو ډيرو محدثينو هم روايت کړی دی .

۱- پیغمبران علیهم السلام .

۲- صدیقین : یعنی ریښتیا ویونکي اوراستکاران .

۳- شهداء : هغه کسان چه د خدای (جلّ جلاله) دکلمې دلورولو د پاره ئې ځانونه قربان کړي دي .

٤- صالحین : هغه کسان چه نیک عملونه ئې کړي او له ناروا وعملونو نه ئې پرهیز کړی دی . دغه مطلب د النساء په سورت کښې داسی بیان شوی دی : « مَنْ يُطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِيْنَ وَحَسُنَ اُولٰئِكَ رَفِيْقًا »

غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ٥

ترجمه :- نه (لاړ د هغو بدو کسانو چه) غضب کړی شوی دی پرهغو باندې ، او نه (لاړ د هغو بدو کسانو چه) ګمراهان دي .

تفسیر : هغه بنده ګان چه د خدای پاک له انعامه لری دي دوی دوه طایفې دي :

۱- اوله طائفه هغه کسان دی چه په ناپوهئ سره د سمې لارې څخه محروم ، منحرف او بیرته پاتی دي .

۲- بل هغه کسان دي چه دوئ سره له پوهې قَصْدًا د الله (جلّ جلاله)

له بنده ګی نه ټې سرکشي او له پیغمبرانو سره ټې دشمني کړې ده، تر دې چه پیغمبران ټې وژلي ، د یا دولو وړ ده چه ښوانې او وروستني کمراهان ټول له دغو دوو طائفو څخه وتلای نشي ، نصارې په او له او یهود په دوهمه طائفه کښې داخل دي .

پروردګار په دغه سورت کښې د سوال کولو طریقه خپلو بنده ګانو ته وښودله ترڅو د دُعا په وخت او دخپل خدای (ج‌ل‌ج‌لاله) د نژدې والي د پاره په دغو الفاظو سره سوال وکړي نو له دې کبله د اٰمین ویل په اٰخر د سورت کښې سنت دي .

د اٰمین معنی - خدایه څما دُعا قبوله کړه .

تمرين

۱- د تفسير لغوي او اصطلاحي معنیٰ څه شی ده ؟

۲- استعاذه څه ته وائي او حکم ئې څه دی ؟

۳- د قرآنکريم د تلاوت په وخت کښې تسميه څه حکم لری ؟

٤- پيغمبر صلی الله عليه وسلم په کوم ځای کښې په پيغمبرئ مبعوث شو ؟

٥- اولنی آيتونه چه په پيغمبر صلی الله عليه وسلم نازل شوی وو کوم دی ؟

٦- د فاتحې د سورت نومونه بيان کړئ .

۷- د فاتحې د سورت ترجمه وليکئ .

د القارعة سورت

د القارعة سورت په مکي کښې نازل شوی او يوولس آيته دي په دې سورت کښې د قيامت له پيل نه د اعمالو ترحسابه پورې چې څه پربنده کانو باندې تيريږي بيان شوی دی .

بسم الله الرّحمٰن الرّحيم

اَلْقَارِعَةُ ۝ مَا الْقَارِعَةُ ۝ وَمَا اَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ ۝

ترجمه : (هغه) ټکوونکی، (د زړونو قيامت) څه دی، هغه ټکوونکی، د زړونو (قيامت) او څه شي پوه کړی يې ته چه څه دي هغه ټکوونکی د زړونو (قيامت) -

تفسير : د القارعة کلمه (۱) له قرع نه اخستل شوې ده چه په معنٰی د ټکولو ده نو ځکه د قارعة معنٰی ټکوونکی او مطلب ترې د قيامت ورځ ده .

د قيامت ورځ له دې کبله د القارعة په نامه يا ده شويده چه

---

(۱) قارعة په معنی د عذاب هم راغلی ده، همدا رنګه شپيلی (صور) ته هم ويلی شوې ده ځکه چه دا اواز دومره شديد دی چه غوږونه ټکوي . «ماوردی»

ټول مخلوقات په شدت او سختئ سره ټکوي- د دې ورځې دویرې
نړونه په لړزه راځي- د غوږونو پردې څیرې او ټول خلك چپ او
حیران پاتې کیږي.

څښتن تعالی په دې سورت کښې د القارعة کلمه تکرار کړې ده
او د هغې له حقیقت څخه ئې پوښتنه کړې ده چه ای محمده! قارعة
څه شی ده، او څه شي پوه کړې چه قارعة څه شی ده، چه دا ټول
تکرار د دغې ورځې نړیات شدت او عظمت څرګندوي. او داورید-
ونکي متوجه کول دي چه د دې ورځې سختي او شدت د مخلوقاتو
د علم له دائرې اوحدودو نه اوچت دی. ترڅو هغه تفصیل ښه
جدي پاملرنه وشي کوم چه په راتلونکوا یتونو کښې راځي.

يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ٥

ترجمه: (تکوی به نړونه) په هغه ورځ کښې چه کړځي خلق
لکه واړه ملخان خپاره کړی شوی (یو پر بل ختونکی)

تفسیر: یعنی هر یو به په یوه لوري په بې تابئ او وارخطائي
سره منډې وهي او ځغلي ګویا دا تشبیه له وړوملخانو[1] سره بیانوي
د شدت د هغې ورځې د چه خلق به لکه ملخان هرطرف ته ځانونه

---

(۱) «کانهم جراد منتشر» د القمر سورت/۷

﴿ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴾

تفسير

د تفسير کلمه په لغت کښې د کشف، وضاحت او بيان په معنىٰ ده، او په اصطلاح کښې د نقل (قرآن وسنت) او يا د ادبى قواعدو په واسطه د لفظ د معنىٰ تعينول دى .

تاويل

تاويل په لغت کښې راجع کولو ته وائي. او په اصطلاح کښې حمل کول د لفظ دى په يوې معنى د څو معناووځينې د صحيحو عقلي قواعدو په واسطه (۱)

---

(۱) ځينو علماوو ويلي دي ، چه تفسير په معنىٰ د بيان دى او مربوط کيږي په روايت پورې . يعنې بيان په واسطه د روايت ته تفسير وائي .

او تاويل راجع کول د لفظ دي د هغه احتمالي معنىٰ ته چه دا په درايت پورې تعلق لري .

غورځوي او منډې به وهي .

وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ ٥

ترجمه: او وبه ګرځي غرونه (له هيبته په دغې ورځې کښې) لکه وړې رنګينې شيندلې شوې (د نداف په لندې)[1].

تفسير: د قيامت ورځ داسې ورځ ده چه غرونه - لکه وړې يا پنبه[2] ذرې ذرې او په هوا کښې وشيندل شي .

نو کله چه غرونه په دومره کلکوالي او درونديوالي سره د قيامت د ويرې شيندل کيږي نو د عاجز انسان حال به څه وي .

د «عهن» کلمه په معنى د رنګ شويو وړيو ده . خداى پاك (جلّ جلاله) پاشيدل د غرونو د رنګ شويو وړيو سره په دې وجه

---

(۱) حُينى وائى چه مراد له غرونو په دې ايت کښې داوړ غرونه دي يعنى د دوزخ اوړ به لکه غرونه لوړ او څوړ کيږي .

(۲) يعنى غرونه به لکه رنګ کړې شوي وړې سپک شي يا تشبيه د دې لپاره ده چه د غرونو دا رنګونه مختلف دي لکه چه په دې مبارک ايت کښې داسې فرمائي « وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ بِيْضٌ وَحُمْرٌ مُخْتَلِفٌ اَلْوَانُهَا وَغَرَابِيْبُ سُوْدٌ » د فاطر سورت ۲۷ ايت .

تشبیه کړی دی چه رڼا ک شوې وړې د نورو وړیو په پرتله ډیرې سپکې دي .

فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهُ ۝ فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ الرَّاضِيَةٍ ۝

ترجمه : پس هر هغه څوک چه د رڼا وند شي (په دغې وړځ کښې وزن (د نیکو اعمالو) د ده ، نو هغه به وی په ښه ژوند ون کښې چه راضي به وي (په جنت کښې) .

تفسیر : یعنی د هغه چا چه د حساب په ورځ ئې نیکي پربدیو ړیانه شي نو دا سړی په دا سی ژوند کښې وي چه له هغه ژوند څخه به راضي اوخوشحاله وي . او هغه ژوند د جنت او نعمتونو ژوند دی .

د (موازین) کلمه چه د میزان جمع ده د ترازو په معنی ده . او له رڼا والی نه ئې مطلب د هغې د پلې رڼا بدل دي .

او یا (موازین) د موزون جمع ده ، یعنی وزن کړی شوی شی ، چه هغه د بنده ګانو اعمال دي .

علماء وائي : میزان حق ده اما په کیفیت ئې یوخدای (جلّ جلاله) پوهیږي نه بل څوک .''[1]

---

(۱) ځینو مفسرینو د میزان (ترازو) په باره کښې په دا لاندی ډول ←*

بعضې اعتراض کوي او وائي چه د انسان عمل عرض دهنه جسم، نوځکه به عرض وزن شي له دې کبله علماؤ دغه کار دا د خدای (جلّ جلاله) کامل قدرت ته حواله کړی دی.

---

*

توجیهات کړی دي:

(الف) له ابن عباس رضؓ څخه روایت شوی دی چه: دا ترازو دوې پلې اویوشاهدن لری چه اعمال پرې وزن کیږي.

(ب) قرطبی وائي: چه د میزان نه مطلب د عدل اوقضاء ده.

(ج) ځینی نور داسی وائي: میزان عبارت دی له حساب نه او د اعمالو د وزن کولو د څرنګوالي په هکله مفسرینو ډیر تحقیقات کړي چه په لاندې ډول دي:

۱- ځینی وائي: اعمال د خدای (جلّ جلاله) په قدرت په جسم تبدیلیږي او دا اعمالو په ترازو کښې اینبودل کیږي.

۲- ځینی نور وائي هغه کتابونه چه عملونه پکښې لیکل شوی دي په ترازو کښې اینبودل کیږي.

۳- ځینی داسی وائي- چه خپله د عمل څښتن په ترازو کښې اینبودل کیږي که نیک عمل ئې لږ وی پله ئې سپکه او که زیات وی پله ئې درنیږي.

دغه ټول توجیهات په احادیثو کښې راغلي دي - ممکنه ده چه عملونه په څوطریقو وزن شي، یوځلی خپله اعمال او بل ځلي کتابونه او صحیفې ئې، او په یا ی کښې خپله عمل کوونکی شخص.

(مظهری او صابونی)

اما نن وړځ علم دا ثابته کړې ده چه د اعراضو وزن کول کوم سخت کار نه دی بشر کولی شي چه کړي اویخني د میزان الحرارې پواسطه سنجش کړي.

د باد سرعت اندازه کولی شي، اوازونه د تیپ ریکارډر پواسطه ثبتولای شي، د انسانانو حرکات د ویدیو (V.C.R) په واسطه هم ثبت کیدلی شي او بیا بنوول کیږي. همدارنګه د کمپیوتر په واسطه ډیر کارونه سرته رسیږي، نو د اعمالو سنجش د خدای (جلّ جلاله) په نزد چه قدرت ئې بې اندازې او غیر محصور دی څه سخت او مشکل کار دی؟ نه هیڅکله نه.

وَ اَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهُ - فَاُمُّهُ هَاوِيَةٌ ۝

ترجمه: او هر هغه څوک چه سپک شي وزن (د اعمالو) دده نومورې دده (ځای د اوسیدلو دده) به هاویه وي.

تفسیر: د چا چه د ده د نیکو اعمالو وزن په سبب د کفر یا زیا توالي د ګناه سپک شي نو ځای ئې هاویه[1] (دوزخ) دی.

---

(۱) هاویه - له هوی یهوی څخه اخیستی شوی دی چه په معنی د لویدلو ده څنګه چه دوزخیان هلته لویږي نو ځکه په دې نامه مسمّی شوی دی. (صابونی)

د "ام" کلمه د موږ په معنی ده د لته مطلب تري د هستوګنې ځای دی لکه چه د موږ غیر د طفل ځای دی نو دوزخ هم د دغو خلقو ځای دی .

د خدای (جلّ جلاله) بنده ګان د قیامت په ورځ پردوه ګروپه تقسیم کیږي :

(الف) : هغه ګروپ چه نیک عملونه ئې درلوده دی .

(ب) :- هغه ګروپ چه نیک عملونه ئې نسبت بدو عملونو ته سپک وي .

معصوم مؤمنان او هغه مومنان چه بخښل شوی وي او یا ئې بنه عملونه د بدو عملونو نه زیات او درلوده وي په لمړي ګروپ او کافران چه هیڅ بنه عمل نه لري[1] او یا فاسقان چه بد عملونه ئې تر بنو عملونو زیات وي په دوهم ګروپ کښې شامل دي .

---

(1) کافران په دې وجه نیک عمل نلري چه ایمان د عمل د صحت د پاره شرط دی نو څرنګه چه دوی ایمان نه لري نو عملونه ئې هم اعتبار نه لري .

ځینی مفسرین وائي : چه د معصومو مؤمنانو لپاره د اعمال وزن نشته دوی بې له حسابه جنت ته داخلیږي . ← *

وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ نَارٌ حَامِيَهْ -

ترجمه: اوخه شي پوه کړي ته څه ده دغه (هاوية) اوږده خوړا تود (چه منکران پکښې پرمخې غوږ ځول کيږي).

تفسير:- پخوا وويل شوه چه: «هاوية» د دوزخ نوم دی. اوس الله (جلّ جلاله) د هغه د کرمۍ شدت بيا نوي اووائي:

څه شي خبر کړي ته ای محمده چه څه شی دی هاوية؟

يعنی د دوزخ داوږ او د عذاب له سختئ څخه خبر يئ که نه؟

هاويه (دوزخ) اوږده ډير سوځوونکی.

په حديث شريف کښې راغلي دي چه پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

دغه اوږ چه بنی آدم ئې لګوي په شدت او قوت کښې د

---

* همدارنګه دکفارو د پاره هم د اعمالو وزن نشته ځکه چه دوی نيک عملونه نه لری نوبې له حسابه دوزخ ته استول کيږي اوپر دې اساس د قيامت په ورځ د خدای (جلّ جلاله) بندګان پرځلور ډوله تقسميږي.

«مظهري و قرطبي»

جهنم داور يو پر اويا وو، برخه تشكيلوي. (۱)

دماهيه كلمه:- په اصل كښې (ماهِىَ) وه، د(ه) حرف ئې په اخر كښې زيات شوى دى- (۲)

---

(۱) - قرطبي د صحيح مسلم نه نقل كړى دى.

(۲) - دغې (ه) ته د سكته (ه) وائي او وصل ئې په اخر كښې د وقف په خاطر دى ترڅو د(هى) په كلمه كښې فتحه ثابته پاتى شي.

(قرطبي د الحاقه سورة)

د تکاثر سورت

د تکاثر سورت په مکه کښې نازل شوی دی او اته ایتونه دی.

په دې سورت کښې د آخرت نه د خلقو بې پروائي اومشغول کیدل ښې، او د دنیا په کارونو کښې د هغوی زیاته مشغولتیا بیان شوې ده.

چه ناڅاپه مرګ ورته رسیږي او په قبرونو کښې خښ کیږي نو پاک خدای (جلّ جلاله) دوی د غفلت له خوبه راپاڅوي اوفرمائي:

بسم الله الرّحمٰن الرّحیم

اَلْهٰکُمُ التَّکَاثُرُ حَتّٰی زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ۝

ترجمه: مشغول کړي یئ تاسې (دعبادته) فخرکول (یولهبله په ډیروالي دمال، اولاد اوقوم) ترهغې پورې چه وویئ، ورځئ هدیرو ته (مړه شئ خښ شئ) یا ترهغې پورې چه مړې هم شمارئ د ډیروالي دپاره.

تفسیر: حرص د مال، اولاد، د دنیا داسبابو اودکورنۍ دغړو او د قوم د زیاتوالي او د هغوی غلبه پر نورو باندې او فخرکول د دنیا په دې فاني شیانو تاسی غافل کړي یاست، هان تر دې چه ستاسې په زړونو کښې ئې د خدای (جلّ جلاله) د محبت

او اخرت لپاره ځای نه دی پرې اینبی، ترڅو د قبرونو زیارت وکړئ او هلته خښ شئ نو هله به خپل دې غفلت باندې پوه شئ.

په بعضې سیمو کښې راغلي دي چه دغه آیت د عربو دوو قبیلو په باره کښې نازل شوی دی چه هرې یوې قبیلې ئې پر بلې باندې دخلقو د زیاتوالي فخر کولو او هرې یوې ویل چه ځمونږه قبیله زیاته ده ترڅوئې نفوس شمار وکړه او کله چه یوه قبیله زیاته شوه هغې بلې قبیلی وویل چه ځمونږه د یرخلق په جنګ کښې مړه شوي دي راځئ راسره ولاړ شئ چه قبرونه سره وګورو ترڅو ثابته شي چه کومه قبیله زیاته ده ؟

خدای پاك په دغه ځای کښې د هغوحال بیان کړی دی او فرمایلی ئې دي :

دغه د زیاتوالي فخر غافل کړي ئې تاسې د خدای (جل جلاله) او اخرت نه او قبرونو ته ولاړی ترڅو هغه وشمیری.

كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ٥ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ٥ (١)

ترجمه: نه ده داسی وی، ژر ده چه پوه به شئ تاسې (په خپلې خطائې باندې) بیا بیخي داسې نه ده وی، ژر ده چه پوه به شئ تاسې (په خپلې خطائې باندې).

تفسیر: د (کلا) کلمه د زجر، تهدید او د سرزنش د پاره ده، یعنې الله (جلّ جلاله) هغه څوک چه د ده (ج) او اخرت له یاد ه غافل وي او شپه او ورځ د مال د غوښولو او فخرکولو په فکر کښې وي سرزنش کړي او فرمایلي ئې دي چه: پوه شئ چه د مال او د نفسو د زیاتوالي فکر چه تاسی پکښې مصروف یاستئ، د ستاسو د پاره کومه فایده نه لري. ژر ده چه د مرګ په رسیدلوسره دخپل کار په عاقبت باندې پوه شئ.

كَلَّا لَوْ تَعْلَمُوْنَ ٥ عِلْمَ الْيَقِيْنِ ٥ (٢)

ترجمه: نه ده داسې که تاسې پوهیدلی (په خرابي د عاقبت

---

(١)، د "کلا" د کلمې تکرار د زیات تهدید لپاره دی، او د "سوف" کلمه د قریبی مضارع د پاره استعمالیږي او معنی ئې داده چه په نژدې اینده کښې.

(٢)، د (لَوْ) کلمه په مبارک ایت کښې د شرط حرف دی او جزا ئې محذوفه ده چه هغه محذوف جمله په قوس کښې ذکر شوې ده.

استعاذه

استعاذه په لغت کښې پناه غوښتلو ته وائي . او په اصطلاح کښې ویل داعوذ بالله من الشّیطان الرّجیم دي . یعنی پناه غواړم په خدای (جل جلاله) له شره د رټل شوی شیطان .

استعاذه د قرآنکریم د تلاوت په پیل کښې سنت ده ترڅو د شیطان وسوسه لرې او د تلاوت مانع ونه کړي .

الله (جلّ جلاله) په قرآن مجید کښې فرمایلي دي : فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ۝ د نمل سورۀ ۹۸/

ترجمه : بیا هرکله (چه وغواړي) ویل د قرآن نو پناه وغواړه په خدای (جل جلاله) له شره د شیطان رټل شوی نه .

د استعاذې ویل په داخل د لما نځه کښې اوله هغه نه د باندې سنت دی .

تسمیه

د قرآن کریم د تلاوت لپاره تسمیه یعنی د بسم الله الرّحمن الرّحیم ویل سنت ده ، ځکه چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمائي : كُلُّ أَمْرٍ ذِي بَالٍ لَمْ يُبْدَأْ بِاسْمِ اللّٰهِ فَهُوَ أَبْتَرُ -

ژباړه :- هر یو شریف کار چه د خدای (جلّ جلاله) په نامه

د تکاثر او تفاخر) په علم الیقین سره (نوداسې به مو نه کول)

تفسیر : غافله کیږئ مه ،که تاسې پر هغو شیانو چه پس له مرګه او پس له ژوندي کیدلو د مرګه پوهیدلی نن به په دې د نیا کښې پوهیدلی وای او په دې غفلت به نه لتاړ کیدلای .

لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ ۝ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ ۝

ترجمه : قسم دی چه خامخا به وویني تاسې دوزخ ، بیاخامخا وویني تاسې هغه(دوزخ) په سترګو د یقین سره .

تفسیر : ستاسو د انکار او غفلت سزا دوزخ دی ، د هغه اثر به په قبر (عالم برزخ) کښې وویني او بیا به په اخرت کښې بې له شکه د دې انکار او غفلت سزا وویني چه هغه د دوزخ عذاب دی.

ثُمَّ لَتُسْئَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ ۝

ترجمه : بیا به خامخا پوښتنې وشي له تاسې څخه هر ومرو په دغې وړځې کښې له (حقایقو ، نعمتو هوسا ینو نه (چه ورکړی وو تاسې ته په دنیا کښې یعنې په هغه وخت کښې چه وپوښتلی شئ چه اوس ړا وښئ چه د د نیا د نعمتو او د عیش او هوسایی حقیقت څرنګه وو) .

تفسیر : د قیامت په ورځ به وپوښتل شئ چه په دنیا کښې د

نعمتونو شکرانه مو اداء کړي او که نه . د بدن د جوړوالي، دخوړلو، جامو، خوب اونورو نعمتو چه خدای پاک درکړي سوال کیږي.

روایت دی چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم یوه ورځ یا یوشپه له کوره ووت ناڅاپه د ابوبکر صدیق او عمر فاروق رضی الله تعالی عنهما سره مخ شو هغه مبارک پوښتنه وکړه څه باعث وو چه له کوره راوتلي یاست ؟ هغوئ وویل . ای رسول الله (ص)! مونږ لوږي واړخطا کړو . هغه مبارک وفرمایل . قسم په خدای (جل جلاله)، چه حُما نفس ئې په لاس کښې دی چه زه هم همدغه شي مجبور کړی یم چه له کوره راووتم .

دوئ مبارکان دیوه انصاري[1] کور ته ورغلل خو هغه په کور کښې نه وو . د انصاري ښځې چه د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم ولید، داسې ئې وویل : ښه راغلاست!

رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښځې نه پوښتنه وکړه چه میړه دې چیرته دی ؟

---

(۱) د انصاري نوم مالك بن اليهان وو او لقب ئې ابوالهيثم و. (قرطبي)

هغې وويل : هغه تللی دی چه مونږ ته خوښې اوبه راوړي.

په دغه وخت کښې انصاري راغی . حضرت پيغمبر صلی الله عليه وسلم ئې چه وليد ، وئې ويل : الحمد لله چه نن هيڅوک ځما له ميلمه نه بښه ميلمه نه لري .

بيا کوړ ته ولاړ او د کجورو يو وښکی ئې راوړ چه په هغه کښې پخې او نيم پخې کجورې وې . او وئې ويل : تاسې ئې له دې ځينې خورئ . او خپله ئې چاړه راواخسته .

حضرت پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته وويل : متوجه اوسه چه شيدې ورکونکی حيوان حلال نه کړې .

انصاري پسه حلال کړ ، غوښه ئې پخه او ميلمنو ته ئې راوړه .

هغو مبارکانو کجورې او د پسه غوښې وخوړې او خوښې اوبه ئې وڅښلې . کله چه ماړه شول ، پيغمبر صلی الله عليه وسلم حضرت ابوبکر او عمر رضی الله تعالی عنهما ته وويل :

قسم په هغه ذات چه ځما نفس ئې په قدرت کښې دی ، دنن

دا پوره تنې قصه مسلم د ابوهريره په روايت ليکلې ده .

ورځې د نعمتونو نه د قیامت په ورځ حتمًا ستاسو نه پوښتنه کیږي. تاسې لوښې له خپل کوره وایستلئ مګر پخوا له دې چې بیرته کور ته راوګرځئ، دا نعمتونه تاسو ته د ورسیدل.

* * * *

د عصر سورت

د عصر سورت په مکه کښې نازل شوی او دری ایته لري.

بسم الله الرحمن الرحيم

وَالْعَصْرِ ۝

ترجمه: قسم دی په زمانه.

تفسیر: د عصر کلمه د زمانې په معنی ده. په دې ایت کښې خدای پاک په زمانه قسم یاد کړې دی، د بنده گانو د پاره جواز نه لري چه غیر د خدای (جل جلاله) له نامه څخه په بل شي قسم یاد کړي. اما د خدای (جل جلاله) قسم د بنده گانو د قسم څخه تو پیر لري ځکه خدای پاک کله چه د یوه شي عزت وغواړي نو په هغه شي قسم یاد وي او کله چه په زمانه کښې داسې عجایب اوپندونه شته چه د خدای (جل جلاله) په قدرت باندې دلالت کوي نو که د خدای (جل جلاله) په نزد کرامت او لوی والی لري.

پر سیره پردې د انسان قیمتي عمر په زمانه کښې داخل دی چه کوم دوره چه د دنیا او اخرت د نیکمرغیو د لاسته راوړلو دوره ده چه دا په لوی والی د زمانې باندې زیاتوالی راولي.

مفسرینو د "عصر" کلمه په لاندینیو معنی گانو هم تفسیر

کړې ده :

الف :- عصر د ورځې د ورځوستیو ساعتونو په معنی راغلی دی، خدای پاک په هغه قسم یاد کړی دی - لکه څرنګه چه په والضحی[1] کښې ئې د ورځې په لمړنیو ساعتونو قسم یاد کړی دی. ځکه چه په دغه دوو وختونو کښې د خدای پاک د قدرت دلیلونه واضحه ښکاري. چه هغه د شپې د تیارې بدلیدل دي د ورځې په رڼا باندې.

ب :- عصر په معنیٰ د مازیګر هم راغلی دی ځکه د مازیګر لمونځ د جمهورو علماؤ په قول منځنی لمونځ دی چه په قرآنکریم کښې د هغه په پاملرنه باندې تاکید شوی دی.

اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِیْ خُسْرٍ[2] ۝

ترجمه: بې شکه انسان خامخا په زیان کښې دی (په صرف کولو د عمر سره په فانی مطالبو کښې).

تفسیر:- قسم په زمانه یا قسم په اخرنیو ساعتونو د ورځې

---

(۱) د (والضحیٰ) کلمه د «ضحیٰ» د سورت په لمړي ایت کې د قسم لپاره ده.

(۲) خسر د هلاکیدو او د عذاب په معنی هم راغلی دی.

یا قسم د مانړیکر په لمانځه چه انسان په زیان کښې دی، ځکه چه هغه د دنیا فاني لذتونه اختیار، او د اخرت ښیګنې او خوشبختۍ ئې هیرې کړي دي.

د «خسر» کلمه او خسران د زیان او نقصان په معنی را غلی دی او په هغه معامله کښې استعمالیږي چه اصلي پانګه هم نابوده شي، د مثال په توګه لکه یو سړی چه په خپله پانګه واوړه واخلي او هغه خرچه نه شي کړی اوبیا د لمرد کرمۍ په واسطه ویلې شي، د غسې سړي ته ویل کیږي چه په تجارت کښې ئې زیان کړی.

همدارنګه د انسان عمرچه ډیره ښه پانګه ده په سړي لاندې ده چه دخپل عمر په قدر او اهمیت باندې پوه شي هغه دې په لهو ولعبو کارونو په کولو ضائع نه کړي، فضیلت او کمال حاصل او ښه عملونه سرته ورسوي. که نه د دغه سړي مثال د هغه چا په څیر دی چه په خپلو پیسو واوړه واخلي او ترې ویلې شي نو داسې سړی به د قیامت په ورځ خالي لاس وي او خدای پاک (جل جلاله) د قیامت په ورځ د دغې پانګې په هکله چه وړکړی ئې وه پوښتنه ترې کوي.

اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ٥

ترجمه: مګر (خو زیانکارانو نه دي) هغه کسان چه ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه) او وصیت یې کړی دی یو له بله په حقه چه ایمان دی.

وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ٥

ترجمه: او وصیت یې کړی دی یو له بله په صبر (په طاعت او مصیبت او ځان ژغورل له معصیته).

تفسیر:- انسان په زیان کاریځ کښې دی مګر زیانکارانو نه دي هغه څوک چه یې نیک کارونه کړي دي. برسیره پردې یې یو تر بله په حقه په صبر او استقامت او د دین د مشکلاتو د عمل په لیاره کښې نصیحت او وصیت کړی دی نو دا رنګه خلق به په زیان کښې نه وي بلکه بریالي او رستګار دي.

نو لپاره د دې چه انسان له زیانه خلاص وي د ده لپاره څلور شیان ضروري دي:

۱- ایمان په خدای (جل جلاله)، او رسول صلی الله علیه وسلم او د خدای (جل جلاله) په وعدو باندې چه د دا وظیفه د ده.

۲- د نیکو عملونو سرته رسول چه دا وظیفه د بدن د اعضاؤ

د ه.

۳- یو تربله دحق د ین ، توحید ، قرآن او ښوکارونوته ر ا بلل چه د هرمسلمان اجتماعي وظیفه ده.

٤- مسلمانانو ته نصیحت کول ترڅو دوئ د سختیو په مقابل کښې صبر او استقامت ولري.

د هُمَزة سورت

د همزة سورت په مکه کښې نازل شوی دی او نه ایته دی.

مفسرین وائي چه دا سورت د اُبی بن خلف یا اخنس بن شرکین او یا ولید بن مغیره د ناوړو اخلاقو په هکله نازل شوی دی اما حکم یې عام دی. هرڅوک چه بدخوی ولري په دې سورت کې وړته بد ویل شوي دي.

بسم اللّٰہ الرّحمٰن الرّحیم

وَيْلٌ[1] لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ ۝

ترجمه: افسوس، هلاک یاکنده د دوزخ یاخرابي ده هر غیبت کر عیب کر لره.

---

(۱) د «ویل» کلمه د هلاکت او شدید عذاب په معنی راغلی ده.
(صابوني)
اوځینو نورو د دوزخ له طبقاتو څخه یوه طبقه کنلې ده.
صابوني او ما دروی)

همزة دلمزة په وزن د فعله دی او په هغه چا یې اطلاق کیږي چه په دغه فعل د زیات معتاد وي لکه هغه څوک چه ډیر زیات خاندي هغه ته ضحکه وائي.
(صابوني)

شروع نشي، هغه کار لنډۍ پوچی (بې برکته) دی .

نود قرآن پاک تلاوت چه له شریفو کارونو څخه دی باید د خدای (جل جلاله) په نامه پیل شي .

د قرآنکریم نزول

ټول قرآنکریم د روژې په میاشت کښې د قدر په شپه یوځای له لوح محفوظ څخه د دنیا آسمان ته رانازل شوی پس له هغه ټوټه ټوټه، د ضرورت په اندازه په درویشتو (۲۳) کلونو کښې (چه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د پیغمبرۍ موده ده) د جبرائیل امین په واسطه په حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندې نازل شو . (۱)

هغه مبارک به لکه څنګه چه جبرائیل علیه السلام د ه ته ښوونه کوله، اصحابو کرامو ته لوسته او مبارکو اصحابو به د حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم د تعلیم سره سم حفظ کاوه، نو له همدې کبله ټولو اصحابو کرامو ټول قرآن عظیم الشان او یا د هغه یوه برخه حفظ کړې وه . د قرآن مجید لمړنۍ برخه چه پر حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم باندې نازله شوې ده، د علق د سورت پنځه اولنۍ آیتونه دي چه د نزول ځای یې د حراء غار دی .

تفسير: د خداى (جل جلاله) عذاب دې په هغه چا وي چه د خلکو غيبت کوي او د خلکو ابرو ته صدمه رسوي. خپل عيب ئې د يادې ايستلى وي، اما د نورو خلکو عيبونه را برسيره کوي.

د (همزه) کلمه د غيبت کولو د خلکو ابرو ته د طعنې کوتنيولو ته وائي.

او "لمزة" په معنى عيب لټونکي ته وائي.

حُيني مفسرين وائي: "همزه" هغه څوک دى چه په بنکارې ډول د خلکو عيب په لاس او ژبه لټوي. او "لمزه" هغه څوک دى چه په پټه او د سترګو په اشارې سره د خلکو عيبونه پلټي.

اَلَّذِىْ جَمَعَ مَالاً وَّعَدَّدَهٗ ۝

ترجمه: هغه (غيبت کر عيب کر) چه جمع کړى ئې دى مال او وار وار ئې شميرلي او ذخيره کړي ئې دي.

تفسير: هغه څوک چه مال جمع کوي او بيا ئې په وار وار شميري او په شميرلو ئې خوند اخلي. لکه څرنګه چه د نړۍ شمير دولتمندان دغه عادت لري او له ډيره بخله هغه مالونه ساتي. او مسکينا نو ته څه شى نه وركوي ځکه ډار يږي چه څه شى ترې کم نه شي او تل تر تله په هغه فخر او غرور کوي چه د غه کبر او غرور

په حقیقت کښې د عیب جوئې او طعن اصلي عامل او منشاء ده.

يَحْسَبُ اَنَّ مَالَهُ اَخْلَدَهُ ۝

ترجمه: ګمان کوي چه بې شکه د ده مال به تل دی ژوندی ساتی.

تفسیر:- دغو خوکرته شمیرلو د مال ځخه داسې معلومیږي چه دا جاهل ګمان کوي چه مال به ئې د ټولو ځمکني او اسماني افتونو نه وژغوري.

"اخلده" (۱) همیشه ساتی دی.

كَلَّا لَيُنْۢبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ

ترجمه:- نه ده داسې (بلکه مړ به شی او دا مال به ئې له عذاب به خلاص نه کړي) قسم دی چه خامخا به غورځولی شي هرو مرو (داجمع کونکی) په هغه شي کښې چه ماتونکی سوزونکی دی د هر شي (دوزخ).

تفسیر:- دا فکر ده چه (د دنیا مال به دې وساتي)، بالکل غلط او باطل دی بلکه دا بد بخت به مري او په دوزخ کښې به

---

(۱) "اخلده" په لاندې معنا ګانو سره هم راغلی دی: ۱- د ده عمر اوږدوي ۲- هغه له مړکه ساتي ۳- ده ته وروسته د مړکه نه ګټه رسوي.

غورځول کيږي او مال به په کور کښې ترې پاتې کيږي او ترکور پورې به هم ورسره ملګرتيا نه کوي.

وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ ۝ نَارُ اللّٰهِ الْمُوقَدَةُ ۝

ترجمه: اوځه شي پوه کړی ئې ته چه څه شی دی ماتوونکی سور وونکی د هرشي. اور د الله دی بل کړی شوی.

تفسير:- حطمه هغسې اور دی چه خدای پاك (جل جلاله) بل کړی دی او هيڅکله نه مړکيږي او دکنهکارانو د پاره آماده شوی دی.

د «حطمة» کلمه له حطم نه اخستل شوې ده او حطم ماتولوته وائي. او دوزخ ته د دې لپاره حطمه ويل شوی دی چې د دوزخيانو هډوکي ماتوي او غوښې ئې خوري. (۱)

اَلَّتِيْ تَطَّلِعُ عَلَى الْاَفْئِدَةِ ۝

ترجمه: هغه اور چه خيژي په زړونو باندې (نوسوځي ئې).

تفسير:- دا هغسې اور دی چه په محضې رسيدو سره په زړونو تاثير کوي يا داچه خپل سور ول له زړه ځينې شروع کوي.(۲)

---

(۱) قرطبي او صابوني

(۲) د دې د پاره چه زړه نسبت ونور واعضاؤ ته ډير درد من کيږي يادا چه زړه د باطلو عقايدو مرکز او د بدو عملونو منشاء دی، نو له دې کبله د دوزخ اور خپل سوځول له دې ځايه شروع کوي. (روح المعاني)

اِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُّؤْصَدَةٌ ۝

ترجمه: بې شکه دا اور به دوئ باندې بندکړی شوی (... مؤظف شوی، تاکل شوی) دی.

تفسیر: پس له هغه چه کفار د دوزخ اور ته واچول شي دوی زنې ټرلی کیږي او اور ئې دوئ احاطه کوي او د وتلو لار پر دوئ باندې بند وي.

فِيْ عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ۝

ترجمه: په ستنو راښکلی شویو اوږد دو سره.

تفسیر:- هغه اور چه لکه اوږد دې ستنې جکې شوې وي او کفار به په دغو اوږد و ستنو وترل شي ترڅوحرکت ونه شي کړای ځکه چه حرکت کول څه قدرې درد ونه کموي، برسیره پر دې له وتلو نه هم نا امیده کیږي. (کابلی او صابونې)

تمرين

۱- د « قارعة » سورت له کومې موضوع نه بحث کوي ؟

۲- د « قارعة » معنیٰ څه ده ؟

۳- د « يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ » مبارک ۱ ایت ترجمه کړئ .

٤- د « اَلْهٰكُمُ » کلمه څه معنی لري ؟

٥- د « ثُمَّ لَتُسْئَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيْمِ » مبارک ۱ ایت ترجمه کړئ .

٦- د « وَالْعَصْرِ » معنا کانې شرحه کړئ .

۷- د « وَالْعَصْرِ » مبارک سورت ترجمه کړئ .

۸- د « ویل ، همزة ، لمزة » معنا کانې بیان کړئ .

۹- د « كَلَّا لَيُنْبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ » مبارک ۱ ایت ترجمه کړئ.

بسم الله الرحمن الرحيم

د فيل سورت

د فيل سورت په مکي معظمه کښې نازل شوی او پنځه ايته دي.
په دې سورت کښې د فيل دخاوندانو قصه بيان شوی ده او هغه
داچه د حبشې د پاچا له خوا په يمن کښې يو سړی چه (ابرهه)
نومېده حاکم مقرر کړی شو. ابرهه چه وليدل خلک له هرې خوا
د کعبې زيارت ته ورځي نو ځکه حسد راغی او وځې غوښتل چه يوه
ښکلې او رنګينه کليسا (د نصارىٰ د عبادت ځای) جوړه کړي، او
خلک دغې کليسا او د نصرانيت دين ته راوبولي.

نوموړي دغه کليسا د صنعا په بنار کښې په ډير زيات لګښت
جوړه کړه مګر خلقو هغې ته هيڅ توجه ونکړه بلکه همغسې کعبې
ته تلل، او راتلل، دغه وضعيت ابرهه سخت ناکراړه او قهرجن
کړاو تصميم ځې وښوه چه کعبه شريفه ورانه کړي. هغه ووچه
په دې مقصد ځې لوی لښکر چه څه جنګي فيلان هم ورسره ووچمتو او د
مکې لورې ته وخوځيدل. عبدالمطلب د پيغمبر صلى الله عليه
وسلم نيکه چه په دغه وخت کښې د قريشو رئيس او د کعبې شريفې
متولي هم وو کله چه ځې د ابرهه د لښکر زياتوالی واوريده قريشو

ته ئې وويل: يوازې خپل ځانونه اومال وساتئ اوکعبه خدای (جل جلاله) ته وسپارئ.

ابرهه چه پوه شوچه قریش دکعبې ځنې دفاع نه کوي ده هم خلکوته وویل چه کعبه وړانوم، اوستاسو په مال اوسرغرض نه کوم نوئې خپل لښکر دکعبې په لور روان کړو. کله چه لښکر د محسب وادی ته نزدې کیدو یو لوی فیل چه د نورو فیلانو په مخکښې روان ووکوندې ووهله او پرمخ ولاړ نه شو هرڅومره ئې چه ووا هه کتله ئې ونکړه اوخپل مخ به ئې بیرته یمن ته کړځاوه.

په دغه وخت کښې واړه واړه مرغان چه زنګونه ئې شنه او زیړ وه، د بحر له خوا راپیدا شول. دغومرغانو هریوه دځانه سره دوې دوې دانې کتکي درلودل چه دوه ئې په پنجو اویوه ئې په نوکه کښې نیولې وه. هغوئ ټولګي ټولګي راتلل اودابرهه په لښکرئې د ډبرو بارانکولو ترڅو ټول لښکر هلاک شواومالونه ئې قریشو ته په غنیمت پاتې شول.

له هغه ځایه چه په دې سورت کښې د فیل دخاوندانو د هلاکت اوتباهئ ذکر شوی دی نودفیل په سورت مسمّی شو.

اَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصۡحَابِ الۡفِيۡلِ ۝

ترجمه : آیا ودې نه لیدل (نه ئې خبر) چه څه وکړه ربستا د فیل د خاوندانو سره .

تفسیر :- د (الم تر) لفظ یعنی (لیدل په سترګو) دې ولې دلته د (خبر نه ئې او علم نه لرې) په معنی استعمال شوی دی ځکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه واقعه په سترګو نه وه لیدلې[1] مګر دا واقعه دومره مشهوره ده چه د مکې معظمې اطفالو ته هم پوره معلومه وه ، نو ځکه الله (جل جلاله) له هغه نه په (الم تر) باندې تعبیر وکړ . (۲)

---

(۱) د حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم د زیږیدلو په باره کښې څو مختلف قولونه راغلي دي : مشهوره قول ئې دادی چه هغه مبارک په همدغه د (اصحاب الفیل) په کال کښې زیږیدلی دی .

(۲) ځینې مفسرین وائي چه د (الم تر) لفظ دا سې معنی کړی دی: ایا دی هغه څه اثار او علائم ډیر نه لیدل چه ربستا د فیل د خاوندانو سره وکړل ؟ او په دې کښې هیڅ شک او شبه نشته چه حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه علایم لیدلی دی .

اَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِيْ تَضْلِيْلٍ ٥

ترجمه : آیا نه ئې وه ګرځولی کید (مکر) د دوئ (په حق د نړولو دکعبې کښې بلکه ګرځولی ئې وو) په ګمراهئ ئې یا نمنی بطلان کښې.

تفسیر :- هغوئ غوښتل چه الهي کعبه وړانه او خپله مصنوعي کعبه د خلکو د پاره کعبه جوړه کړي. اما خدائ (جل جلاله) وښه غوښتل او د دوئ پخپله دغه کرغیړنه اړدو کښې ناکام شول. خدای (جل جلاله) د دوئ مکر او بد نیت باطل او بې حاصله کړو او د کعبې دخرابولو په هیله ئې خپل ځانونه هلاک کړل.

وَاَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا اَبَابِيْلَ ٥

ترجمه : او ړاوئ لیږل پردوئ باندې مرغان ټولکی ټولکی.

تفسیر :- خدای پاک (جل جلاله) د ابرهه په لښکر باندې مرغان مسلط کړل چه د بحر له خوا ټولکي ټولکي راتلل او د ابرهه لښکر ئې احاطه کولو.

تَرْمِيْهِمْ بِحِجَارَةٍ مِنْ سِجِّيْلٍ ٥

ترجمه : چه ویشتل ئې هغوئ په کانو سره چه له خټو" په اور پخو شویو" څخه جوړ شوی وو.

تفسیر :- د غو مرغانو د ابرهه لښکر محاصره کړ او په هغو ډبرو چه لکه حنټه په اوږه پخه شوی وي په دوئ راغورځولې او ویشتل ئې.

د سجیل په معنیٰ کښې مفسرینو څو توجیهات کړي دي :

۱- د سجیل کلمه فارسي ده چه د خښتی او ډبرې ځینې داسې جوړوي چه لمړی برخه ئې ډبره او دوهمه برخه ئې خښته ده.

۲- د سجیل کلمه د ډیر کلك او سخت په معنیٰ هم راغلی ده.

۳- د دنیا اسمان ته هم سجیل ویلی شي ځکه چه دغه ډبرې له اسمانه راوړل شوی وي نو په دې نامه مسمیٰ شوې ده.

فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَأْكُوْلٍ ۝

ترجمه :- نو ئې کړځاوه دغه لښکر په شان د وښو خوړلیو شویو پایمال کړی شویو.

تفسیر :- مرغانو د ابرهه لښکر داسې په ډبرو وویشته چه په یوه شیبه کښې ټول مړه او لکه هغه وابنه وکړځیدل کوم چه څارویو خوړلي او بیا ئې تر پښو لاندې پایمال، تیت او بیکاره کړي وي.

د «عصف» «مأکول کلمه» هغو وښو ته وائي چه څاروي

تفصیل د واقعې په دې شکل دی :

حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم په څلویښت کلنۍ کښې په پیغمبرئ باندې مبعوث شو، پخوا له دې چه په پیغمبرئ باندې مبعوث شي، د حراء غار ته کوم چه د نور د غره په څوکه کښې واقع دی، تللو او هلته به د خدای (جلّ جلاله) په عبادت باندې مشغول وو . یوه ورځ په داسې حال کښې چه د خدای جلّ جلاله په عبادت باندې مشغول وو، ناڅاپه جبرائیل علیه السلام د خدای (جلّ جلاله) له لورې وحې راوړه او وې ته ئې وویل : اِقْرَأْ - یعنی ولوله - پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : زه څه نه شم لوستلای . جبرائیل علیه السلام هغه مبارک په غیږ کښې ټینګ ونیوه او بیا ئې وویل چه ولوله - هغه مبارک صلی الله علیه وسلم بیا وویل چه : زه لوستونکی نه یم .

---

(۱) پوره تنی مطلب د دغو دوو ایتو څخه معلومیږي :

الف : شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیْ اُنْزِلَ فِیْهِ الْقُرْاٰن -

ب : اِنَّا اَنْزَلْنَاهُ فِیْ لَیْلَةِ الْقَدْرِ -

د قرانکریم د نزول واقعه د دوشنبې په ورځ د روژې په اولسمه نیټه او د حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم د عمر په څلویښتم کال .

پُ وخورې او څه ورځينې پاتې شي . (۲)

* * * *

---

(۲) د لښکر هر وګړی په هغه ډبره وویشتل شوچه د هغه نوم پرې لیکل شوی وو ، دغه کټکي د « می » له دانې څخه غټې اوله نخود نه وړې وې .

د قریش سورت

د قریش سورت مکي او څلور ایته دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لِإِيْلَافِ قُرَيْشٍ (۱) إِيْلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ ۝

ترجمه: له جهته د انس او الفت د قریشو یوله بل سره، د جهته د انس او الفت د دوئ په سفرد ژمي (کښې یمن ته) اوپه اوړي (کښې شام ته هرکال).

فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ الَّذِيْ أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوْعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ ۝

ترجمه: نو ښایي چه بنده کي وکړي دوئ رب د دې کوټې

---

(۱) د "لِإِيْلَافِ" کلمه له اَلِفَ یَأْلَفُ څخه اخیستی شویده او معنی یې الفت او عادت ورکول دي. د دې کلمې تکرار د تاکید د پاره دی، یا داچه داکلمه دلته د نعمت د ورکولو په معنی ده او هم په معنی د ورکولو د عادت او الفت، نو په دې اساس دآیت معنی داسې کیږي:

نعمت ورکول ځما قریشو ته الفت ورکول د دوئ دي د ژمي او اوړي سفرونو ته.

کعبې، ته هغه ړب چه طعام خواړه ئې ورکړي دوئ ته په لوږې کښې او امن ئې ورکړی دی دوئ ته له چا ر او ویرې څخه.

تفسیر:- له هغه ځایه چه په مکې معظمې کښې په صحیحه توګه زراعت نه کیده، نو قریشو به تجارت ته هڅه کوله. نو په ژمي کښې به یمن ته چه هلته هوا توده وه او په اوړي کښې به شام ته چه هلته هوا یخه او سرسبزه منطقه وه تلل.

هغه ملك چه د دوئ په لاړ کښې وه له هغه ځایه چه دوئ ئې د خدای (جل جلاله) دکور خدمتګاران بلل د هغوئ ئې زیات احترام کاوه او د دوئ په ځانونو او مالونو ئې تجاوز نه کولو. قریشو به د دغو دواړو سفرونو څخه زیاته کټه آخیستله، او مکې معظمې ته به بیرته راتلل او نور به ئې خپل وخت د خدای (جل جلاله) دکور په خواکښې په امن سره تیراوه او د نورو قبائلو په مینځ کښې به چور او چپاول روان وو. نو دا یو لوی نعمت ووچه خدای (جل جلاله)، دوی ته ورکړی وو.

پاك خدای (جل جلاله) په دې مبارك سورت کښې دغه نعمتونه یادکړي.

نو قریشو ته دا لازمه وه چه دکعبې د خدای (جل جلاله)

عبادت ئې کړی وای.

هغه خدای ﷻ چه د خپل کرم له دسترخوان څخه ئې دوئ ته روزي ورکړی او دوئ ئې له لوږې نه ژغورلي او د دښمن له ویرې او ډار نه ئې په امن کښې ساتلي او هم ئې د دښمن شر له دوئ څخه لرې کړی دی لکه څرنګه ئې چه دوئ د اصحاب فیل له شره په امان کړل.

د ماعون سورت

د ماعون سورت په مکه کښې نازل شوی دی او اوه ایته دی.[1]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَرَاَيْتَ الَّذِىْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ ۝

ترجمه: آیا وینې ته هغه څوک چه دروغ وائي په ورځې د جزا باندې.

تفسیر:- خدای پاک فرمائي: ای محمده! ایا تاوپژاندې هغه څوک چه د حساب او د عملونو د جزا ورځ دروغ ګڼي او داګمان کوي چه هغه ورځ چه په هغې کښې د نیکو او بدو جزا ورکوله کیږي وجود نه لري.

د دین کلمه دلته د حساب یا د خدای (جل جلاله) د حکم

---

(۱) دا د جمهورو مفسرینو قول دی. ځینې مفسرین وائي چه دا سورت په مدینه کښې نازل شوی دی. او ځینې نور په دې عقیده دي چه اولني درې ایتونه ئې د عاص بن وائل یا ابوجهل یا ولید بن مغیره په باره کښې په مکې کښې او نور ایتونه ئې په مدینه منوره د عبدالله بن ابی ابن سلول منافق په باره کښې نازل شوی دی.

«جلالین»

او یا د اعمالو د جزاء په معنی دہ .

فَذَٰلِكَ ٱلَّذِى يَدُعُّ ٱلْيَتِيمَ ٥

ترجمه : نو که (ئې پیژنې همدغه) همغه (څوک) دی چه رټي شړي یتیم په شړلو قبیحو سره .

تفسیر:- له یتیم سره ډېره خوښی نه کوي له هغه سره په بې رحمئ بده رویه کوي ظلم پرې کوي او حق ئې نه ورکوي .

وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ ٥

ترجمه : او نه کوي تیزول تشویقول په طعام (د خواړه ورکولو) د مسکین باندې .

تفسیر:- دا دومره بخیل دی چه په خپله خوشه شی فقیر او مسکین ته نه ورکوي بلکه نورخلك هم نه تشویق کوي او په دې راضي نه دی چه مسکینانو ته څوک طعام ورکړي .

پر یتیمانو باندې ډېره سوی او د بې وزلو او فقیرانو لاس نیوی د انسان له لوړو وصفاتو څخه ګڼل کیږي .

فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ٥ ٱلَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ٥

ترجمه :- پس هلاک ، افسوس ، کنده د دوزخ یا خرابي ده لپاره د لمونځ کونکي ، هغه کسان چه له لمانځه خپله بې خبره وي

(په خپلو اداابو او اوقاتو سره ئې نه اداء کوي).

تفسير : سخت عذاب او هلاک دی د هغه لمونځ کوونکو لپاره چه له خپل لمانځه نه غافله او هغه په ټاکلي وخت کښې په اداء کوي او د قدر او اهميت په سترګه ورته نه ګوري.

ابن عباس (رضی الله عنه) فرمايلي دي : د دې مبارک ايت نه مراد هغه څوک دی چه لمونځ کوي او د ثواب اميد ئې نه لري او که ئې ونه کړو له نه کولو ئې ويره د عذاب نه لري.

ځينې نورو وئې : لمونځ په خپل وخت کښې نه کوي رکوع او سجده ئې نه تماموي او داسې لمونځ کوي لکه چرګ چه منبوکه وهي. (۱)

---

(۱) په حديث شريف کښې راغلي دي چه هغه لمونځ کوونکی منافق دی کوم چه ترهغه لمونځ نه کوي ترڅولمرلويده نژدې او لمر ديرا او د شيطان (د دوو ښکرونو ترمنځ راښکته بيا نو پاڅيږي او څلور پلا سر په ځمکه وهي لکه چرګ چه خپله منبوکه پرځمکه وهي. خپل خدای (ج) نه يادوي مګر ډير لږ (مشکوة د تعجيل الصلوٰة باب په روايت د مسلم).
قرار ښول د لمر په دوو ښکرونو د شيطان کښې دا معنی لري چه شيطان د لمر د غروب په وخت کې لمرته مخامخ درېږي ترڅوخپلو همکارانو ته وښئی چه څوک چه د لمر عبادت کوي په حقيقت کښې د ده عبادت کوي.

له ابن عباس ، رضی الله عنه ، څینې د دغه ایت د تفسیر پوښتنه وشوه هغه مبارک وویل : دا هغه کسان دي چه خپل لمونځ په خپل وخت نه کوي یعنی هغه تاخیروي .

څینو ویلي دي چه دا کسان منافقین دي چه کله یوازې شي نو لمونځ نه کوي او یوازې د خلکو په مخکښې لمونځ کوي .

د « ساهون » کلمه د سهوه کوونکو په معنیٰ ده . مګر دلته د ترک کوونکو او غفلت کوونکو په معنیٰ راغلې ده او له ساهون نه سهوه کوونکې په لمانځه کښې نه دي ځکه چه له دې سهوې څخه هیڅوک خلاص نه دي حتی خپله پیغمبر صلی الله علیه وسلم هم څو ځلې چه ټې د خپل خدای (جل جلاله) په لوټې او عظمت کښې فکر کاوه سهوه شوی دی .

فقهاؤ هم په خپلو کتابونو کښې په لمانځه کښې د سهوی په باب بحث ، او د سهوی د سجدې احکام ټې بیان کړي دي .

اَلَّذِیْنَ هُمْ یُرَآءُوْنَ ۝

ترجمه :- هغه کسان چه دوئ ریاکاري کوي (په عمل کښې بنوونه کوي خلقو ته) .

تفسیر :- لمونځ لپاره د ریاکارئ کوي چه ځانونه خلکو ته

وښئی نه د خدائ ﷻ د رضاء لپاره . دوئ تنها په لمانځه کښې نه بلکه په نورو اعمالو کښې هم ریا کوي. دوئ له خپله خدایه ﷻ بیګانه دي نو ځکه ریاکاري کوي ترڅو خلك ورته ښه سړی ووائي.

وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ۝

ترجمه : او منع کوي مال د زکات یا اسباب د امداد یولږ بله.

تفسیر :- « ماعون » له کفن څخه اخیستی شوی دی چه په معنیٰ دلږ او کم شي دی.

او دلته مراد ترې هغه شیان دي چه په خلکو کښې ډیر عادت په ډول ورکړه ورواج لري ترڅو خلك ترې فایده واخلي لکه ډولچه، رسۍ، دیګی، تبر، لور، ستن او داسې نور شیان. یعنی دوئ داسې بخیلان دي چه دغه پورتني شیان هم کاوندیا نو او نورو خلکو ته نه ورکوي.

نو داخلق به څرنګه زکات او صدقات ورکړي چه بخل ئې په دې اندازې دی چه په لمانځه کښې ریاکاري کوي نو مسلماني به ئې څه فایده ولري.

د کوثر سورت

د کوثر سورت مکي او درې ایته دی .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِنَّا اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ۝

ترجمه: بیشکه مونږ درکړی دی تاته کوثر (د پرخیر یا ویالې په جنت کښې) .

تفسیر:- د کوثر کلمه مفسرینو په ډیرو معنا وو تفسیر کړې ده چه غوره یې دادي :

الف : کوثر د پرخیر او ډیر ته نیکي .

ب : ویاله ده په جنت کښې .

ج : د نبي کریم صلی الله علیه وسلم حوض دی چه د قیامت په ورځ به مؤمنین تري اوبه څښي . (۱)

فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ۝

ترجمه : نولمونځ کوه د پاره د رب خپل او قرباني کوه .

تفسیر:- یعنی د الله (جل جلاله) د نعمتونو د شکرانې په

---

(۱) کابلی تفسیر .

حضرت جبرائیل علیه السلام بیا هغه مبارک په غیر کښې تینګ وښوه، (فشارئ ورکړ) او وئ ویل: اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِیْ خَلَقَ ۝ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۝ اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ الَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ۝ عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَالَمْ یَعْلَمْ ۝

ژباړه:- ولوله (ای محمده قرآن) په برکت د نامه د رب خپل، هغه رب پالونکی چه پیدا کړی ئې دي (ټول مخلوقات) پیدا کړي ئې دی انسان له ټوټو د ترلیو شویو د وینوڅخه. ولوله (ای محمده قرآن) حال داچه رب ستا لوی کریم دی (پر ټولو کریمانو) هغه رب پالونکی، چه بنودلی ئې دی (خط انسان ته) په قلم سره، بنوونه ئې کړیده ۝ انسان ته د هغو شیانو چه دی پرې نه پوهیده (پخوا له بنودلو).

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په داسې حال کښې چه ټول بدن ئې له ویرې لړزیده، کور ته راغی او خپله ماندینه حضرت بی بی خدیجې رضی الله عنها ته ئې وویل: ما وپیچه! ما وپیچه! هغې رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوې جامه کښې وپیچل تر څو خوب یوړو، کله چه له خوبه راپاڅیده قیصه ئې بیان کړه، هغې مبارکی حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د لاسه وښوه، او ورقه بن نوفل ته چه د حضرت بی بی خدیجې رضی الله عنها د کاکا

بدل کښې چه تا ته ئې درکړی دی لمونځ او قرباني وکړه ځکه ډیر لوی بدني او روحي عبادت لمونځ او لوی مالي عبادت قرباني ده، هغه قرباني چه د حضرت ابراهیم علیه السلام د سنت پیروي کښل کیږي ځکه هغه غوښتل خپل ځوی د پاك خدای (جل جلاله) د رضا لپاره قرباني کړي . (۱)

مشرکانو به بتانو ته سجده کوله او دهغوئ په نوم به ئې اوښان قرباني کول نو پروردګار په دې مبارك ایت کښې خپل پیغمبر (ص) ته په توحید او اخلاص امرکړی او فرمائي:

" خپل خدای (جل جلاله) ته دې لمونځ کوه او دهغه په نامه قرباني وکړه ". (۲)

إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ۝

ترجمه: بې شکه دشمن ستا همغه دی بې بنیاده له هره خیره لرې.

تفسیر:- " شانئك " کلمه د ستا د بنمن له تاسره حسد کوونکی

---

(۱) کابلی تفسیر

(۲) صابوني تفسیر

او له تا سره د بغض کوونکي په معنی دی.

او د «الابتر» کلمه د «بَتَرْ» څخه اخیستل شوې ده چې د حیوان د پرې کړی شوې لکۍ په معنیٰ ده. او د عربو په اصطلاح کښې هغه چا ته ابتر ویل کیږي چه له هغه څخه نسل پاتی شوی نه وي یعنی وړوسته له مړکه به ئې نسب قطع شي. کله چه د حضرت پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) حُوی قاسم وفات شو حُینو مشرکینو به لکه عاص بن وائل ویل چه دغه سړی ابتر دی. نو پاك خدای (ج) د هغوپه حُواب کښې دا مبارك ایت نازل کړو چه ستا دښمن ابتر دی حُکه چه وړوسته دعاص له مړکه به هیڅوك دی په ښه نامه یاد نه کړي او پرده لعنت وائي اما ترڅوچهان پاتی دی ستا نوم به په نیکئ یادوي او پرتا به درود وائي لکه په اذان، خطبې او د لمانځه په منځ کښې د خدائ (جل جلاله) له نامه سره یوځای ستا نوم د الله (جل جلاله) د پیغمبر او بنده په صفت یادیږي.(۱)

---

(۱) صابونی او کابلی تفسیر.

د کافرون سورت

د کافرون سورت په مکه کښې نازل شوی او شپږ آیته دی.

د دې سورت د نزول سبب: د اسلام په لومړیو وختو کښې کافرانو دا کوشش کولو چه حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم راضی کړي ترڅو د هغوی سره صلح وکړي او د اچه دې ص، د بتانو بد ونه وائي او هم خلک د بت پرستۍ څخه منع نه کړي، نوله همدې کبله یوه ورځ څو کسه د قریشو غټان د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حضور ته راغلل او وې ویل: چه یو کال ته څمونږ د بتانو عبادت وکړه بیا به بل کال مونږ د ستاد خدای جل جلاله عبادت وکړو نو په دې ترتیب به څمونږ او ستا ترمینځ سوله ټینګه شي هغه ووچه خدای پاک دغه سورت د هغوی د دې پیشنهاد د رد لپاره نازل کړ.

بسم الله الرَّحمٰن الرَّحیم

قُلْ یٰاَیُّهَا الْکَافِرُوْنَ لَا اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ○

ترجمه: ووایه ای محمده!

ای کافرانو! نه کوم زه فی الحال عبادت د هغه شي چه تاسی ئې عبادت کوی (چه بتان دی)

وَلَا اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَا اَعْبُدُ ○

ترجمه: اونه یئ تاسی (ای کافرانو فی الحال) عبادت کوونکی د هغه ذات چه زه ئې عبادت کوم

تفسیر: خدای تعالیٰ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته امر وکړو چه ووایه ای کافرانو هغه معبودان چه تاسی ئې بی خدایه عبادت کوی، دوی لیاقت دعبادت نه لري زه دهغوعبادت نه کوم او تاسی هم دهغه خدای ﷻ، چه زه ئې پرستش کوم عبادت نه کوم.

وَلَآ اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ۝ وَلَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ۝ (۱)

ترجمه: او نه یم زه عبادت کوونکی (په وروستی زمانه کښې) دهغه شي چه عبادت ئې کوی تاسی (ای کافرانو) او نه ئې تاسی (ای کافرانو په وروستی زمانه کښې) عبادت کوونکی دهغه ذات چه زه ئې عبادت کوم (چه الله جل جلاله دی).

تفسیر: همدارنګه اوس زه ستاسو د خدایانو عبادت نه کوم او تاسی هم دیوه او بی شریکه خدای جل جلاله عبادت نه کوی او په اینده کښې هم د دی انتظار مه باسی چه زه به د

---

(۱) په دې مبارک آیت کښې مخاطب هماغه کافران دی چه د خدای جل جلاله په علم کښې د دوئ ایمان نه راوړل معلوم وو لکه د عاص بن وایل او ولید بن مغیره ایمانونه که نه نوځینو کفار و وروسته ایمانونه راوړل او ایمان راوړي.

تاسی سره په دی باره کښې موافقت وکړم او تاسی به هم په آینده کښې د پاک خدای جل جلاله عبادت ونه کړی .

د امبارک آیت د کفارو هغه اُمید چه ګوندې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم به له دوی سره سازش وکړي قطع کړو کفار د هغه له پلوه په کُلی توکه نا اُمیده شول نو ئې خپلې ملاوې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او ددې د یارانو د ضرر رسولو د پاره وترلې .

ابن عباس رض فرمایلي دي : په قران کښې بل هیڅ داسی شی وجود نه لري چه له دې سورت نه زیات شیطان پرې ناآرامه شي .

لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ

ترجمه : تاسی لره دی دین ستاسی (شرک) او مالره دی دین زما (توحید ، اسلام)

تفسیر : تاسو کافرانو د مسلمانانو او اسلام سره یعنی له هغه ځایه چه ضدیت او د شمنی شروع کړی ده او حق نه قبلوي نو له دې کبله ستاسی د پاره د غه د شرک او باطل دین دی کوم چه د جهالت له مخې مو انتخاب کړی . او ځما د پاره د توحید او ریښتینی دین دی یعنی اسلام دی ترهغه وخته چه خدای جل جلاله ځموتږ او ستاسی په مینځ کښې فیصله

وکړي او د هريوه د عمل جزاء ورکړي - (۱)

د دين کلمه چه د سورت په آخرکښې ذکر شويده اصل ئې (ديني) ده چه (يا) ترينه خذفه شوی او تنها دين پاتې شوی دی.

---

(۱) د (لکم دينکم) يعنی داسی ده چه د تاسی لپاره د ه جزاء د عمل په تاسی او زما د پاره دې زما د عمل جزاء.

ځينی مفسرين وائي: دغه آيت او حکم ئې د جهاد له فرضيت څخه مخکښې وو او د جهاد په آيت سره دغه حکم منسوخ شو.

ځينی وائي: چه حکم منسوخ شوی نه دی ځکه دا تهديد دی د کفارو د پاره لکه (لنا اعمالنا ولکم اعمالکم) او د آيت معنی داسی ده. ستاسو د پاره ستاسو د دين جزاء او زما د پاره زما د دين جزاء د ه

. (قرطبی)

د نصر سورت

د نصر سورة مدني او درې ايته دی.

په دې سورة کښې د مکې فتح، د عربی او غیر عربی قبایلو اسلام راوړلو او د حضرت سرور کائنات صلی الله علیه وسلم د مقصد و اتمام او اکمال ته اشاره شوی ده، دا آخرین سورت دی چه په مکمله توګه او یوځا نازل شوی دی.(۱)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ ۝

اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ۝

ترجمه: کله چه راشي نصرت مرسته د الله جل جلاله او فتح د (مکی).

وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا ۝

ترجمه: او وویني ته خلك چه ننوځي په دین د الله جل جلاله کښې فوج فوج (ډلې ډلې).

تفسیر: د مکی له فتحی نه مخکښې عربی قبائلو انتظار درلوده چه که چېرته محمد صلی الله علیه وسلم مکه فتح کړه او پرخپل قوم

---

(۱) - قرطبی.

باندی بریالی شو نو پیغمبر دی .[1]

کله چه مکه په اتم هجري کال کښې فتح شو عربی قبائلو وویل: له هغه ځایه چه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دحرم په خلکو باندی هم بریالی شو حال داچه خدای پاک ج، دوئ پخوا داصحاف فیل له تجاوز څخه ژغورلي وو، نور نو مو درسول صلی الله علیه وسلم د مقابلی توان نه لرو ، له دې کبله د دې دلې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته راتلل او بیعت به ئې کاوه او هم به د اسلام په مقدس دین مشرف کیدل. او د مکې د فتحې نه مخکښې یو یو او یا دوه دوه کسه راتلل او د اسلام په دین مشرف کیدل.

نو خدای جل جلاله په دې مبارک سورت کښې خپل پیغمبر ته یادونه کوي چه ماته ددې د پاره استولی وې چه خلکو ته اسلامي مقدس دین ور ورسوې، او له هغو کسانو سره چه د تبلیغ د مخنیوی او د اسلام د نابودی قصد لري جهاد وکړی.

اوس دخدای جل جلاله نصرت اوکومک راغلی دی او اسلام - قوت موندلی. مکه معظمه چه د قبائلو مرکز او د مسلمانانو قبله ده

---

[1] ، صابونی تفسیر

فتح شوه خلک وینی چه پوخ پوخ د اسلام لوري ته رجوع کوي.

فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ ۚ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا ۝

ترجمه : پس د حمد او ثناء سره خپل رب او پروردګار په پاکۍ یاد او مغفرت بخښنه وغواړه له ده څخه (لپاره د ګڼا هونود امت خپل یا لپاره د ماتېدو د نفس او قصور د عمل بېشکه چه د غه الله ﷻ) تل دی ښه توبه قبلوونکی د ګڼهګا رانو.

تفسیر : یعنې ای محمده ! په دنیا کښې ستا له بعثت نه نشر او تکمیل د دین وو چه دا هدف انجام شو او اوس دغه دی ستاد آخرت سفر نژدې دی، نو په خاطر جمعې سره ورته متوجه اوسه او د هغه نعمتونو د شکران لپاره چه د مکی فتح او نورو کومکونه چه در په برخه شوي دي ، د خدای پاک ج ثناء او حمد ووایه او د ځان او د اُمت د پاره دې بخښنه وغواړه بېشکه چه الله جل جلاله قبلوونکی د توبې دی.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم په د غه آیت او څو نورو آیتونو کښې مکلف شوی دی چه د ځان د پاره بخښنه وغواړي ، لکه څرنګه چې ورته ویل شوی دی (وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ) او نور.

مفسرین وایۍ : معنائۍ داده - بخښنه او مغفرت وغواړه ترڅو

دې امت هم پېروي وکړي او هغوئ هم بخښنه وغواړي اويا داچه دخپل نفس دماتېدلو لپاره بخښنه وغواړه ځکه پيغمبرصلی الله عليه وسلم له ګناهونو نه پاك دی.

له بی بی عائشې رضی الله تعالیٰ عنها څخه روايت شوی چه ددې سورت له نزول نه وروسته حضرت پيغمبرصلی اللهُ عليه وسلم دا ـ دعا د ډېره ويله.

(سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ)

يعنی پاکي ده تالره ای خدايه! ستاحمد اوثنا وايم له تانه بخښنه غواړم اوتا ته رجوع کوم ـ

ځوی او په انجیل پوه اوعالم وو، ورووست.

حضرت بی بی خدیجې رضی الله عنها ورته وویل: له وراړه دې واوره[1] چه څه ئې لیدلي دي.

ورقه له حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه د واقعې دجیریان پوښتنه وکړه، هغه مبارک د واقعې جیریان بیان کړ، ورقه وویل: دا هغه ملکه ده چه موسیٰ علیه السلام ته راغلې وه، زیری درکوم، چه ته د خدای (جلّ جلاله) پیغمبر ئې. کاشکی زه ځوان او قوي وای (ځکه ستا قوم تا وباسي).

---

(۱) حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ورقه وراړه نه وو، استعمال ددې کلمې د بی بی خدیجې رضی الله عنها له خوا اغضرت صلی الله علیه وسلم ته مجازًا وو.

تمرین

۱- د اصحاب فیل قصه بیان کړئ.

۲- د " لِاِیْلٰفِ قُرَیْشٍ اٖلٰفِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّیْفِ "مبارک آیت ترجمه او تفسیر کړئ.

۳- د ماعون دکلمې معنیٰ بیان کړئ.

۴- دکوثر معنیٰ کا نې شرح کړئ.

۵- د (اِنَّ شَانِئَكَ هُوَالْاَبْتَرُ) مبارک آیت ترجمه اوتفسیر کړئ.

۶- دکافرون د سورت د نزول سبب ولیکئ.

۷- د (وَرَاَیْتَ النَّاسَ یَدْخُلُوْنَ فِیْ دِیْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا ه) مبارک آیت ترجمه او تفسیر وکړئ.

دلهب سورت

دلهب سورت په مکه کښې نازل شوی او پنځه آیته دی.

په دې سورت کښې د ابولهب او د ده د ښځې د ښمنې له پېغمبر صلی الله علیه وسلم سره او د دوئ د کارانجام بیانېږي.

د نزول سبب: ابو لهب چه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم تره اود ده ښځه(ام جمیل) چه دابوسفیان خور وه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ډې سخته د ښمنې درلوده له، دابولهب دښمنې له حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره دومره زیاته وه چه هغه خپل ټول کارونه پرېښودل او د هغه مبارک پسې به ګرځېده لکه چه پېغمبر صلی الله علیه و سلم خلګ واسلام ته را بلل، نو ابولهب به د هغه مبارک خبرې پرېکولې او ډیر وخت داسې شوي دي چه د آنحضرت صلی الله علیه وسلم خواته به ډې د بړې غورځولې. یوه ورځ هغه مبارک خلګ د صفا غره ته راوبلل کله چه خلګ راټول شول نو هغوی ډې اسلام ته را دعوت کړل، ابولهب چه هلته حاضر وو لاس ډې وښوراوه او وډې ویل:

" تَبًّا لَّكَ سَائِرَ الْيَوْمِ أَلِهٰذَا دَعَوْتَنَا "

یعنی دائم هلاکت دې وي پرتا باندی ای محمده! آیا تا د دې

خبرې لپاره مونږ جمع راغونښتي وو.

هغه ووچه الله جل جلاله د ابو لهب د قول د رد لپاره دا مبارک آیت نازل کړو:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

تَبَّتْ يَدَا اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ ۝

ترجمه: مات هلاک دی شي دواړه لاسونه د ابو لهب او په خپله دې هم هلاک شي. (۱)

تفسیر: هلاک دې شي د ابو لهب دواړه لاسونه چه د هغو

---

(۱) شاه ولی الله او روح المعانی دواړه دې خبرې ته ترجیع ورکړې چه دا دواړه جملې دعائیه دی او بعضې مفسرین دا دواړه جملې خبرې ګڼي لکه چه کا بلی تفسیر دواړه خبرې ګڼلی دی او جلالین اوله جمله دعائیه او دوهمه ئې خبرې ګڼلی دي.

تبت د خسران، هلاکت، زیان، ذلت، خواری او نورو په معنی راغلی دی.

۲- د اچه الله ج، د ابولهب لاسونو ته هلاکت متوجه کړی دی له دې کبله دی چه زیات کار ونه د لاس په واسطه سرته رسیږی یا د اچه له لاس نه دهغه نفس مراد دی، چه په دې صورت کښې دوهمه جمله د اولې جملې لپاره تاکید ده.

په واسطه ئې حضرت پیغمبرصلی الله علیه و سلم ا زارولو او دهغه مبارک په لورې به ئې د برې ویشتلې.

اوهلاک دې شي په خپله ابولهب چه د پیغمبرصلی الله علیه وسلم او مسلمانانو سرسخت دښمن دی.

وائې چه: د بدر له جنګ نه اوه ورځې وروسته د ابولهب په وجود کښې زهرجن زخم پیدا شو، ښځې او عیال ئې لپاره ددې چه د هغه مرض دوئ ته سرایت ونه کړي ابولهب له کوره لرې وغورځاوه ترهغه چه په د هر ذلت اوخواږه مړشو او تر دریو ورځو پورې څوک نه وو چه هغه خوښ کړي، وروسته له دې ورځو چه مړې ئې خراب شوی وو، حبشی کارګرانو یوه کنده وکنده له او ابولهب ئې دیو اوږد لرګي په واسطه په هغه کنده کښې وغورځاوه.

کله چه حضرت پیغمبرصلی الله علیه وسلم ابولهب د خدای ج له عذابه وېراوه، ده به په ځواب کښې ویل: حضرت محمدصلی الله علیه وسلم دروغ وائې اوکه ئې حتی خبره رښتیا هم وي، زما مال اواولاد د هر دې ټول به د خپل خلاصون په لاره کښې مصرف کړم چه د خدای جل جلاله له عذابه نجات پیدا کړم د دې خبرې په اړتباط خدای جل جلاله دا آیت نازل کړو:

ما اَغْنٰی عَنْهُ مَالُهٗ وَمَا كَسَبَ ٥

ترجمه: دفع نه کړدغه هلاکت له دغه (ابولهب څخه (اصلي) مال دده او هغه چه ده کتلی وو (اولاد ئې) ۱۰۱.

تفسیر: هیڅ شي له ده ځینی عذاب او هلاکت دفع نه کړای شو نه ئې مال ده ته کومه فائده ورسوله او نه ئې اولاد. که ابولهب په خپل مال اولاد د هر نا زړه اوپه خپل دنیوی عزت او لوی والي ئې فخر کاوه، دغو شیانو له ده الهی عذاب او هلاکت دفع نه کړای شو او په هر بد حالت هلاک شو او د آخرت عذاب له دینه لوی دی که کافران پوه شي.

سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ٥

ترجمه: د هر ژر دی چه ننه به وځي (ابولهب په قیامت کښې) په اورخاوند د لمبو کښې.

تفسیر: ژر دی چه ابولهب به ورسوله له مرګه په سوځوونکی اولمبو د دوزخ کښې ورد اخل شي.

۱۰۱، د سړی اولاد ته د هغه کسب هم ویلی شي لکه چه په حدیث شریف کښې راغلی دي (اولادکم من کسبکم).

وَامْرَاتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ٥

ترجمه: (او ننه به وچې بنځه دهغه ابو لهب اورته په داسې حال کښې چه بار راوړونکی به وي دخسو د دوزخ .

تفسير : دابو لهب بنځې دخپل مېړه په شان حضرت پېغمبر صلی الله علیه وسلم سره د بنمنۍ درلوده له، په شیطانت او دجاسوسۍ په واسطه ئې د د بنمنۍ اوږتازه کاوه ، سره له دې چه د ابولهب بنځه مالداره وه مګر له ډېره بخله او سختۍ به ئې د وړځې له ځنګل نه خس په اوږو راوړل او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په لاره کښې به ئې اغزي غورځول ترڅوحضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم اذیت کړي ، پاک خدای جل جلاله په دې مبارک ایت کښې دغه مطلب ته اشاره کړې اوفرمائلی ئې دي چه :

د ابولهب بنځه به هم د جهنم اورته داخله شي چه راوړونکی د لرګیو ده.

ځینې علماؤ ویلی دي: مطلب د لرګیو له وړلو څخه د عربو په اصطلاح کښې چغلی (سخن چینی) اوپه فارسي کښې هم سخن چین ته هیزم کش وائي . بنا پردې مراد له (حمالة الحطب) نه چغلی ده ځکه دا ډېر ناوړه عمل دی او له همدې امله ده چه پاک خدای جل جلاله

دابولهب بنځه په دې بد نامه و ستايله .

فِيْ جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ۝

ترجمه : حال داچه په غاړه د دې کښې رسۍ ده له مضبوطو رسيو پټوکو د خرما وو څخه .

تفسير : د ابولهب د بنځې په غاړه کښې به د خرماوود پټوکو نه جوړ شوی رسۍ وه چه دهغې په واسطه ئې اغزي لرونکی خس په شا کول او د حضرت پيغمبر صلی الله عليه وسلم ومخی ته به ئې اچول .

تعجب په دې کښې دی چه يوه ورځ په داسې حال کښې چه دخسو پټتی ئې په شا وو ، په يوې ډبرې ئې د دمې جوړولو د پاره تکيه کړې وه ، رسۍ ئې په غاړه کښې و نښته او پټتی ئې شاته وغورځېده ، تر څوپه هغه رسۍ خفه او په ډېر ذلت سره مړه شوه .

د ټول مفسرين وايئ : چه له (حبل من مسد) نه مراد د اور غړوندي او ځنځيرونه دی . يعنی لکه څرنګه چه ئې په دنيا کښې رسۍ په غاړه درلوده او خس ئې چلول په دوزخ کښې به ئې هم د اور ځنځيرونه په غاړه وي مګر که چه خدای پاک جل جلاله په

پخوانې ایت کښې ام جمیل د ابولهب ښځه د خسو بار وړونکی بللی ده، د هغې جملې په مناسبت ئې په دې ایت کښې د دوزخ ځنځیرونه د خرماوو د رسیو سره تشبیه کړی دی ځکه چه د خسو وړل رسۍ ته ضرورت لري.

د اخلاص سورت

د اخلاص سورت په مکه کښې نازل شوی اوخلور آیته دی.

په دې مبارک سورت کښې د الله تعالیٰ یو والی، د کمال صفتونه اوله هر ډول نقص او عیبه د الله جل جلاله پاکوالی بیانیږي.

د نزول سبب : له هغه ځایه چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم کفار او مشرکین له بت پرستی څخه منع کول او د هغوئ بتان ئې بد ستایل، نو هغوئ پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته راغلل او وئې ویل :

ای محمده ! ته چه زمونږ بتان بد ستائې خپل خدای جل جلاله مونږ ته بیان کړه چه هغه څنګه شی دی. نو الله تبارک و تعالیٰ د هغو په مقاب کښې دا آیت نازل کړ.

ځینی مفسرین د دې سورة د نزول سبب دا سې بیانوي چه، یهودو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه دا مخلوق چه خدای ج پیدا کړی دی نو خپله خدای جل جلاله چا پیدا کړی دی نو ځکه الله پاک د دوئ په ځواب کښې دا مبارک سورت نازل کړ.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ۝

قُلۡ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۝

ترجمه : وواية (اى محمده دوئ ته) شان دادى چه الله جل جلاله يودى (په ذات اوصفاتو خپل كښې).

تفسير : پاك خداى جل جلاله خپل پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته وائى : دمشركينو او دهغو نورو په خواب كښې چه لتانه پښتى ووايه: چه الله جل جلاله په خپل ذات اوصفاتو كښې يو دى او شريك نه لري، دامبارك دمجوسو (داور عبادت كوونكو) اودنورو مشركينو دباطله عقائدو دپاره مكمل رد دى ، لكه مجوس په دووخدايانو عقيده لري يوئ دخيرخداى چه هغه تەيزدان وائى او بل ئ دشر خداى چه هغه ته اهريمن وائى ، اما هندوانو اونورومشركينو په زرهاوو شيان په خداى نيولى اوعبادت ئ كوي لكه دو برو او لركيو څخه جوړ شوي شيان ، خوسكى ، اوبه او داسې نور څيزونه .

اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۝

ترجمه : الله جل جلاله بې پروا دى (الله جل جلاله ته هرشى محتاج دى.

حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه: آیا څما قوم ما وباسی؟ ورقه وویل! هو هر پیغمبر چه مبعوث شوی دی د هغه قوم د هغه سره دښمني کړیده، که زه په هغه وخت کښې واوسیږم، ستا سره به خامخا کومک کوم.

۷: د قرانکریم راټولول او ساتنه :-

د قرانکریم راټولول او ساتنه ئې په دوو طریقو سره شوې ده:

۱- **طریقه** :- د قرانکریم آیتونه په همغه قسم چه نازلیدل اصحابو کرامو به یادول او په دې ډول به ئې د قرانکریم د ورکیدونه مخ نیوی کولو او هغه به ئې ساتل.

۲- **طریقه** :- د قرانکریم د ساتلو دوهمه طریقه د هغه نوشته کول وو او له هغه ځایه چه په عربو کښې دکاغذ جوړول او د هغه استعمال خورا لږ وو نو اصحابو کرامو د قرانکریم په لیکلو کښې له ډبرو، لرګیو، پوستکو او نورو شیانو څخه چه د دوی په لاس کښې وه، کار اخست، قرآني آیات به ئې پرې لیکل او له ځان سره به ئې ساتل.

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم خوتنه مامور کړي وو، چه قرآنکریم نوشته کړي چه هغه مبارکان دغه کسان وو:

تفسیر: د(صمد) په تفسیر کښې علماؤ ډیر بیانات کړی دي چه هغه ټول صحیح او د پروردګار له کامله صفاتو څخه دي.

اوځینی نورو په لاندی ډول د صمد معنیٰ بیان کړی ده:

الف: صمد هغه ذات دی چه دی له مخلوقاتو بی نیازاو مخلوقات ده ته محتاج دی اوخلك د خپلو کارونو او ستونځو د پاره هغه ته مراجعه کوي.

ب: صمد هغه ذات دی چه نه څه خوري او نه څه څښي یعنی له خوراکه او څښاکه پاك او بی نیازه دی.

ج: صمد هغه ذات دی چه باقي دی او نه فاني کیږي یعنی دائم اوهمیشه دی.

د: صمد هغه ذات دی چه هرڅه وغواړي هغه کولی شي اودخپلې ارادې سره سم حکم کوي.

لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ ٥

ترجمه: نه ئې دی زیږولی (هیڅوك) اونه دی زیږولی شوی دی (له هیڅا).

تفسیر: یعنی نه څوك د هغه اولاد دی اونه دی د چا اولاد دی بلکه ټول موجودات د هغه ذات مخلوق دی اوپیدا کوونکی د

ټولوجهانیانو دی .

اولاد درلودل اود بل چا اولاد کېدل د احتیاج نښه ده اوپاک خدای جل جلاله محتاج نه دی.

دامبارک آیت دهغوخلکوعقیده ردوي چـــه وائی : عزیرع، دخدای جل الله زوی اوملائکی دخدای جل جلاله لورګانی دي.

حُینی نور حضرت مسیح ع ، یا نورو افرادوته خدای وائی چه د (لـم یولد) مبارک آیت دا موضوع ردوی.

نومراد دادی چه دخدای جل جلاله شان دادی چه ده څوک نه دي زېږولی ، نوعیسی علیه السّلام اوعزیرعلیه السلام چه د پاکو سنځو له نسونو پیدا شوی دی څنګه کېدای شي چه دخدای - پاک اولاد شي.

وَلَـمْ يَكُنْ لَّهُ كُفُوًا اَحَدٌ ٥

ترجمه : اونشته د غه الله جل جلاله لره برابرسیال هیڅوک.

تفسیر : له خدای جل جلاله سره هیڅوک دمخلوقا تو،هم مثل ، مانند اومشابه نه دي. نه په ذات او نه په صفا توکښې له ده سره هیڅوک برابری نه شي کولی.

د غه مبارک آیت دهغوعقیده ردوي چه دخدای جل جلاله

سره په صفاتو کښې مخلوق شریکوي او هغه خدای پاک داسې کښې (نعوذ بالله من ذلك) . د امبارک سورت څلورآیته دی چه د پاك خدای جل جلا له صفاتو ځکه بیان کړی دی.

په اول آیت کښې د خدای جل جلا له وحدانیت ثابتوي او شرک او تعدد نفی کوي .

په دویم آیت کښې د خدای پاك ج، کامل والی ثابتوي او هغه څخه نقص او عجز نفی کوي .

په دریم آیت کښې د خدای پاك بقاء او ازلیت ثابتوی او زیوال، او زیوبدل چه د ازلیت له صفاتو سره منافات لري نفی کوي .

په څلورم آیت کښې (چه ولم یکن له کفوًا احد) دی د پروردګار لوی والی او جلال ثابتوي .

او د پاك خدای سره د هر قسم هم مثل، شریك او ضد موجودیت رد وي.

په حدیث شریف کښې راغلی دی :

د اخلاص سورة د قرآن له دریمې برخې سره برابر دی.

یعنی تلاوت ئې د قرانکریم له درېمی برخی سره برابر دی.[1]

علماء وائی:

د قرآن علوم درې برخی دی چه عبارت دي له:

۱-توحید.

۲-احکام.

۳- او قصص څخه.

اوله هغه ځایه چه د اخلاص سورت د توحید برخه تشکیلوي نوځکه د قرآن عظیم الشان درېمه برخه ورته ویل کېږي.

---

[1] د مړک په حالت کښې د قل هو الله احد لوستل د قبر د عذاب د تخفیف موجب کرځی او د قیامت عذاب آسانه کوي. په حدیث شریف کښې راغلي دي:

که څوک کورته د ننوتلو په وخت کښې د اسورت و وائی غربت او فقر له هغه کورنه د خدای جل جلاله په مرسته لرې کېږي.

د فلق سورت

د فلق سورت په مدینه کښې نازل شوی او پنځه آیتونه دی دغه سورت او د ناس سورت ته معوذتین هم وایئ.

د معوذتینو د نزول سبب :

د شپږم هجری کال په آخر کښې د حضرت پیغمبر صلی الله او کفارو ترمینځ د حدیبې صلحه لاس لیک شوه، دواړو وخواو تعهد وکړو چه تر لسو کلو پورې به یو پر بل حمله نه کوي. نو کله چه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم خاطر د قریشو له خوا جمع شو، د هجرت په اووم کال خیبر ته متوجه شو او هغه ئې فتح کړ. هغه یهودان چه هلته ښښته وه او د مسلمانانو په ضد ئې فعالیت کاوه او هرې خواته تیت شول اوله دې امله چه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو سره ئې مخامخ د مقابلې توان نه درلود، نو تصمیم ئې ونیو و چه په پیغمبر صلی الله علیه وسلم سحر اوجادو وکړي، هغه ووچه د یهودانو مشران لبید بن اعظم چه مشهور یهودي کودکړو و ورغلل اوخواهش ئې وکړ، چه که چېرې په محمد صلی الله علیه وسلم کودې وکړي نو د هر مال به درکړو. لبید د دوئ خواهش قبول کړ، او یو هلك ته ئې چه یهودي وو او د حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم په کور کښې

ئې خدمت کاوه پیسې ورکړې ترڅو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ویښتا نو څخه چه د بر منځولو په وخت کښې غوره ځیدلی دي د آنحضرت صلی الله علیه وسلم د بر منځو له څوغا ښو نوسره ده ته راوړي

لبید د هغه مبارک صورت له شمع جوړه او ویښتان اود بر منځې دندانې ئې په هغه صورت کښې ځای پرځای کړې اویوولس دانی ستنې ئې هم په هغه صورت کښې بنځې کړې . او د خپلو لونو سره چه هغه هم کوډګرې وې په کوډو وکولو ئې شروع وکړه او بیا ئې هغه کوډې په یوه کوهی کښې چه په مدینه منوره کښې د بنی زریق په بن کښې واقع وو خښې کړې.

دهغه کوډو اثر دحضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په مبارک وجود کښې ظاهر اوهرکله به ئې د درد احساس کولو. په یوه روایت کښې څلویښت ورځې او په بل روایت شپږ میاشتې اوپه بل روایت یوکال د دغه کوډو اثر دوام درلود. (۱)

ترڅو پیغمبر صلی الله علیه وسلم دوحې په واسطه خبر شو او

---

(۱) دجلالین شریف په حاشیه کښې لیکل شوي دي چه دریم روایت درست دی.

حضرعلی ، زبیر اوعمار بن یاسر رضی الله تعالی عنهم ښځ نومورې
څاه ته واستول ، دوئ کوډې له څاه نه راوکښلې او رانې وړې،
په هغوکوډو وکښې یوولس غوښتی وې او پاک خدای جل جلاله یوولس
آیته چه په دغو دواړو سورتونوکښې دي نازل کړل اوخپل پیغمبر
صلی الله علیه و سلم او اصحابو ته ښځ امر وکړوچه دغه دواړه سورته
ووایئ . اصحابو کرامو رضی الله تعالی عنهم به چه هرآیت لوستل
یوه غوښته به ښځ خلاصوله او چه هره غوښته خلاصیده له پیغمبرصلّی-
-الله علیه وسلم به په خپل وجود کښې دراحت احساس کاوه ، تر
څو ښځ آخرینه غوښته خلاصه کړه اوهغه مبارک داسې احساس
وکړو لکه چه دده لاس او پښې وروسته له دې نه چه په رسۍ
ترلې شوي وي بیرته راخلاصی شوی وي .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۝

ترجمه : ووایه (ای محمده)! پناه غواړم په رب د سباګیرووونکی د تیارې باندی.

تفسیر : یعنې ووایه ای محمده ! چه پناه غواړم په پروردګار چه هغه قادر اوصاحب د قدرت اوګیرووونکی د تاریکی د شپې دی او له هغه څخه د سباوون رڼیانی راوباسي.

د فلق کلمه په معنیٰ د سباوون ده اوځو معناوی هم لري ، د - مخلوقاتو او دوزخ په معنیٰ هم راغلی ده.

مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ۝

ترجمه : له شره د هغه شي چه پیدا کړی ئې دی (له ضررناکو شیانو).

تفسیر : یعنې هر هغه مخلوق چه په هغوکښې څه بدی او شروي زه د هغو له شره اوبدی څخه پناه غواړم لکه انسان، جن ، ګیرووونکی اوچیچونکی ژوې مضره جمادات لکه زهر اوداسې نور شیان .

وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ٥

ترجمه : او له شره د تیارې د شپې، کله چه تپه توره تیاره شي (او هر شی پټ کړي).

تفسیر : یعنی ووایه ای محمده! چه پناه غواړم په پروردګار له شره د تاریکی د شپې کله چه هغه تیته شي او ټول ځایونه ونیسي، خدای پاک جل جلاله په دې مبارک آیت کښې خپلو بندګانو ته امر کړی دی چه د شپې د تیارې له خطره د ده مقدس ذات ته پناه یوسئ.

څرنګه چه ځینې شریر انسانان او جنیات د شپې له خوا کړیې او همدارنګه څیروونکي ژوې او خزندې د شپې له خوا په کرځېدو راکرځېدو کښې دي.

د (غاسق) کلمه د شپې او د هغې د تاریکۍ په معنیٰ راغلی ده او دا لاندی معناوې هم ورکوي.

الف : په معنیٰ د لمر کله چه ډوب شي.

ب : په معنیٰ د سپوږمۍ کله چه د خسوف په واسطه پټه شي او توره وګرځي

ج : په معنیٰ د پیرونی (پروین) کله چه پټې شي؛ ویل کیږي- چه پیرونی کله پټې شي نو مرضونه او آفتونه زیاتیږي او کله چه

راوخيژي نو مرضونه او آفتونه لري کړي.

پيرونی هغه واړه ستوري دي چه په يوه ځای کښې سره راغونډ شوی او د سيارا تو له جملې څخه دي.

وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِی الْعُقَدِ

ترجمه : او له شره د هغو بنځو ساحرانو پوکوونکيوچه پوکول کړي په غوټو کښې.

تفسير : يعنی پناه ورم په پروردګار د عالم له شره د جادوګرو بنځو پوکوونکيو په غوټو کښې، د غه بنځې ديهودي لبيد لومنی وې چه دکوډو علم ئې لوستلی وو، کوډ پې ئې په پيغمبرصلی الله عليه وسلم باندی کولی په هغوکښې به ئې پوکولو.

درنفثت ، کلمه له نفث اخستل شوی ده او نفث د پوه کولو په معنٰی ده.

(عقد، د عقدې جمع دی او د غوټی په معنٰی ده

وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ٥

ترجمه : او له شره د حسد کوونکی کله چه بنکاره کړی حسد خپل.

تفسير : يعنی پناه ورم پروردګار ته له شر او له ضرره د حسد

۱- زید بن ثابت رضی الله تعالی عنه .

۲- اُبَیّ بن کعب رضی الله تعالی عنه .

۳- معاذ بن جبل رضی الله تعالی عنه .

٤- معاویه بن ابی سفیان رضی الله تعالی عنه .

د قرانکریم د لیکلو طریقه :

په اولو وختونو کښې د قرآنکریم د لیکلو طریقه ډیره ساده وه ، حرکات ټې یعنی زَور، زیر، پیښ، شَدّ، غاړوندی ټې نه درلودل.

نو بیا کله چه اسلام پراخي وموندله او مختلفو قومونواونژادونو ایمان راوړ د قرانکریم په لوستلو کښې ورته ډیر ربړونه پیدا شول نو علماوو په قرآنکریم کښې علاقه ایښودل ضروري وګڼل چه دغه کار د لمړي ځل لپاره د عبدالملك بن مروان په زمانه کښې چه د اموی خلفاؤ څخه وو سرته ورسید او په دې توګه د قرآن کریم لوستل ټولو مسلمانانو ته آسانه شو.

کوونکی لکه لبید او دا سې نور کله چه د خپل حسد له امله آزار او ضرر رسول شروع کوی لکه لبید او نور وچه د خپل حسد له مخې ټې دجادو کولو په واسطه سره خپل بغض او حسد بنکاره کړ.

حسد: د نورو د نعمت د زوال غوښتل دي په شرع کښې داکار ـ ناروا دی.

غبطه: د بل چا د نعمت د مثل غوښتل د ی پرته له دی نه چه د نعمت د خاوند نه دهغه د زوال مطالبه وکړي. چه دا سې ارزو کول کوم ناروا کار نه دی. (۱)

---

(۱) په حدیث شریف کښې راغلی دی چه (المؤمن یغبط وَالْمُنَافِقُ یَحْسُدُ) یعنی مؤمن غبطه کوي. او منافق حسد کوي. وایې چه حسد لومړنی ګناه ده چه د هغه په واسطه د خدای پاک جل جلاله نافرمانی شوی ده، په آسمان کښې شیطان له آدم علیه السلام سره حسد وکړ او په ځمکه کښې قابیل له هابیل سره حسد کوونکی ملعون او د خدای جل جلاله د غضب مورد ګرځي.

په بل حدیث شریف کښې راغلی دي چه : د د ریو کسانو دعانه قبلیږی : د حرام خور ، د د ې ر غیبت کوونکی او دهغه چا چه په زړه کښې ټې د مسلمانانو د پاره حسد وي. "قرطبی"

ځینی علماء دحسدکوونکی شر د سترګو په نظر او زخم باندې تعبیروي او د سترګو په زخم یا نظر کښې شک نه شته .

اما زیات مفسرین وایئ چه له (مِنْ شَرِّحَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ) څخه پناه غوښتل له هغه چا ځینی ده چه دخپل حسد سره سم عمل وکړي او چا ته ضرر ورسوی ولې هغه څوک چه بی له ارا دې ئې په زړه کښې د حسد خاطره پیدا شي مګر دی خپل نفس اداره کړي او چا ته ئې ضرر ونه رسوي له دې حکمه خارج دي .

د ناس سورت

د ناس سورت په مدینې کښې نازل شوی دی اوشپږ آیته دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۙ ۵

ترجمه: ووایه (ای محمده)! پناه غواړم په رب د ټولو خلقو

تفسیر: یعنی ووایه ای محمد صلی الله علیه وسلّمَ. پناه غواړم په خالق د ټولوخلقو. سره له دې چه خدای پاك جل جلاله د ټولو مخلوقاتو رب دی مګر د دوو وجهولهامله ئې په دې مبارك آیت کښې ځان رب النّاس کړلی دی.

۱- اولنۍ وجــه داده چه پاك خدای جل جلاله په ټولو مخلوقاتو کښې انسان ته لوی والی اوکرامت ورکړی، د دې د پاره ئې ځان رب النّاس وبالله یعنی سره له دی چه انسان لوی والی اوکرامت لري خدای جل جلاله د هغه رب دی.

۲- دوهمه وجه داده چه: په دې مبارك آیت کښې امرشوی دی چه د شره له انسانه دی خدای جل جلاله ته پناه یوړه شي اوپه دی کښې تعلیم ورکړشوی دی چه هغه ذات چه د انسانو له شره ورته

پناه وړه کړي یوازې د الله جل جلاله مقدس ذات دی.

مَلِكِ النَّاسِ ٥

ترجمه: په پاچا د ټولوخلقو.

تفسیر: یعنی پناه وړم بادشاه دخلقوته له هغه ځایه چه په خلقوکښې بادشاهان شته، پاك خدای جل جلاله په دې مبارك آیت کښې دخپل ځان بادشاهی یاده کړه او اشاره ئې وکړه چه دده ذات د بادشاهانو بادشاه اومالك د ټولومخلوقاتو دی.

حاکم او محکوم بادشاه او رعیت ټول دده جل جلاله د قدرت، عظمت اوجلال په مقابل کښې یو شی دی نو لازمه ده چه خاص دهته پناه یوړه شي. نه بل چا ته.

اِلٰهِ النَّاسِ ٥

ترجمه: په معبود د ټولوخلکو.

تفسیر: یعنی پناه وړم دخلقو معبود ته چه بی دهغه له ذات نه پرته بل پروردکار نه لري. له هغه ځایه چه دخلکو په مینځ کښې داسې کسان وه چه خلکو به ئې عبادت کاوه، نو پروردکار ج، دې موضوع ته اشاره وکړه چه یوازې الله جل جلاله دخلقومعبود دی نه بل څوك.

اویوازینی ذات چه پناه ورته وړه کړي همدغه الله جل جلاله دی نه بادشاهان اودخلکو مشران .

مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ۝

ترجمه : د شړه د وسواس اچوونکی تښتېدونکی (د الله جل جلاله له ذکره) .

تفسیر : یعنی پناه غواړم (له پروردګار با دشاه او معبود د خلقو) د تښتېد ونکی یعنی شیطان د وسوسې له شر نه.

شیطان دخلقو له نظره پټ انسان غولوي اوپرانسان ترهغه وخته تسلط لري چه دخدای جل جلاله له یاده غافل وي مګرکله چه پوه او دخدای جل جلاله په ذکر مشغول شي ، د شیطان تسلط له مینځه ځي اوله انسان نه لرې تښتي .

د وسواس کلمه له وسوسی څخه اخستل شوی ده او د وړو خبرو په معنی ده ، او شیطان ته ددې دپاره وسواس وایئ چه په پټه او وړو وړو د انسان په زړه کښې وسوسه اچوي بی له دې نه چه آواز یئ واوړېده شي .

دخناس کلمه په معنی د پټ شوي راغلی ده نو شیطان ته ددې دپاره خناس وایئ چه کله انسان خدای جل جلاله یاد کړي شیطان

تښتي اوپټېږي اوکله چه دخدای جل جلاله ذکره غافل شي بېرته راګرځي او وسوسه وړته اچوي.

اَلَّذِیْ یُوَسْوِسُ فِیْ صُدُوْرِ النَّاسِ

ترجمه: هغه شیطان چه وسوسې اچوي په سینو زړونو د خلکو کښې.

تفسیر: یعنی پناه وړم وخدای جل جلاله ته له شره د وسوسه کوونکی چه وسوسه او ډاراچوي دخلکو په زړونو کښې او وسوسه هغه شی دی چه خلک وخپل اطاعت ته رابولي او دا رابلل داسې په پټه کېږي چه اوړېدل له کېږی نه ولې مفهوم ئې وزړه ته رسېږي او په هغه تاثیر کوي.

په حدیث شریف کښې راغلی دی چه شیطان دبنی آدم په وینو کښې داخلېږي.

مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ۝

او پناه وړم وخدای پاك جل جلاله ته له شره د وسوسه کوونکی چه انسان دی اوکه پیری.

د پیري وسوسه هماغه د شیطان وسوسه ده چه پخوا ئې یادونه وشوه امّا دانسان په وسه کښې دوې وجهې دي:

۱- اوله وجه : د انسان خپل نفس اوخپلې غوښتنې دي چه دی په وسوسه کښې اچوي.

۲- دویمه وجه : داده چه یوانسان بل انسان ته وسوسه اچوي اوله سمې لارې ښې باسي.

پوهان وائې : د انسي شیطان وسوسه د جني شیطان له وسوسې ځینې خطرناکه ده ځکه چه جني شیطان د اَعُوْذُ بِاللّٰهِ په ویلو سره تښتي مګر انسي شیطان د اَعُوْذُ باللّٰهِ په ویلو سره نه تښتي اوبد کارونه انسان ته بنه بنایئ او انسان ناروا کارونو ته هڅوي.

د افغانستان د تعليمي مرکز د نصاب
اهداف

عمومي هدف:

د ټولو جهادي تنظيمونو د تعليمي نصاب انکشاف اداره ډيومتوازن او جامع اسلامي ښوونې او روزنې مخ ته راوړل چې د هر ډول باطل پرستي او بدعتونو ضد وي همدارنګه د اسلامي کلي قوانينو او مفاهيمو استحکام د افغانستان په اسلامي ټولنه کښې غواړي.

خصوصي هدف:

د اسلام سپاهيان او د حقيقت لارې تلونکوته د يو والي او وحدانيت لارښوونه کوي ترڅوچې دوي په مستحکم اودايمي ډول ځان د عالي او معقولو اسلامي سنتو او قوانينو متمسک وي.

د نصاب د اسلامي ښوونې او سواد، د جهادي، فرهنګي، فلسفي، اقتصادي تخنيکي، مدني، معيشتي شرايطو په نظرکې نيولو سره ضامن دی.

چې په عين وخت کې د ننه شليدونکي پيوستون ممثل او اتصالات د اسلامي نړۍ سره وي او د اسلامي مقدسو حقايقو مبين وي.

آخري هدف:

د کلمة الله اوچتوالی، د اسلام د شان او عظمت ښودل د نړۍ والو ته، د کفر او کمونيزم اضمحلال، په افغانستان او نړۍ کې د سپيڅلي قرآن د اصولو او قوانينو او د محمدي (ص) غوا شريعت د حنفي فقه په اساس خاص د خداى د رضا د حاصليدلو په نيت د زماني د طاغوتيانو سره مبارزه د د تعليمي نصاب آخري مرام دی.

ERIC
B
6 431
SO1
1394

لمړی طبع
دَ چاپ شمیر (۱۰۰۰۰) دَ چاپ کال : ثور ۱۳۶۹
دَ تعلیمی مرکز دَ نصاب مدیریت

تمرین

۱- د لهب سورت د نزول سبب بیان کړئ .

۲- د لهب د سورت وړوستی آیت ترجمه او تفسیر کړئ .

۳- د اخلاص سورت ترجمه کړئ .

۴ - د معوذتینو د نزول سبب بیان کړئ .

۵ - د فلق دکلمې معنا کانې شرحه کړئ .

۶ - د نَفّٰثٰت دکلمې معنیٰ کانې بیان کړئ .

۷ - (د وسواس او خناس) دکلمو معنیٰ کانې بیان کړئ .

د فاتحې سورت

د فاتحې سورت په مکه[1] کښې نازل شوی او اوه آیته لري.

د فاتحې د سورت نومونه :

د فاتحې سورت ډیر نومونه لری چه مهم یې دادي :

۱- فاتحه :-

دې سورت ته ددې لپاره فاتحه ویل کیږي چه د قرآنکریم افتتاح په همغې سره شویده .

۲- حمد :-

دې سورت ته حمد هم ویل کیږي لپاره د دې چه په دیکښې ومومنانو ته د حمد ویلو طریقه ورښوول شوې ده .

---

(۱) هغه سورتونه چه د حضرت پیغمبر(ص) د هجرت نه پخوا نازل شوی دی مکي او هغه چه وروسته د هجرت نه نازل شوی دی مدني سورتونه دي.

فایده - سورهٔ د قرآنکریم یوه برخه ده چه څو سورتونو ته شاملیږي او اول او اخر ولري . ۱ ، آیت د قرآنکریم د کلماتو یوه برخه ده چه د فاصلې په واسطه یو تربله سره جلا کیږي ، او فاصله هغه اخرنۍ علامه د آیت ده .

درسی کتابونه او د هغو محتویات د منل شوی تعلیمی اصولو
پر اساس تهیه او تطبیق کړی. اوس چه دلوی خدای په فضل
د لمړی دوری د کتابونو چاپ او ترتیبول پای ته رسید لی او
د خدای پاک په مرسته منځنی او دوهمه مرحله شروع شویده
بیایی هم خپله علمی دنده دیوه غوره تعلیمی پروګرام په برابر-
ولوکی چه د ټولو تعلیمی بنسټونو او علمی موازینو سره برابروی
نده هیره کړی. او دیخوا په شاني د درسی کتابونو په برابرولو
او تدوین کی د نورو مختلفو جهادی تنظیمونو د پروګرامونو
څخه په استفادی سره زیاته پاملرنه کړیده.

د افغانستان تعلیمی مرکز خپله دنده بولی چه د نصاب مدیریت
له هغو استادانو، پوهانو او کارکونکو څخه چه دیوه اسلامی
واحد تعلیمی نصاب د منځ ته راوړلو په برخه کی چه له علمی
موازینو سره سمون لری له هیڅ ډول ایثار او سرښندنی څخه
دده نده کړی منه او درناوی وکړی، او د دوی لازیات
بریالیتوبونه د علم او معارف په برخه کی له پاک خدای څخه
وغواړی.

هیله لرو دهیواد راتلونکی او ځوان نسل د قدروړو مدرسینو
دعلمی لارښوونی په نتیجه کی تری زیاته ګټه واخلی، تر څو دیوه

نوی افغانستان د پاره چه یو اسلامی، خپلواک اوپرمخ تللی
افغانستان به وی رښتینی او ګټور غړی وروزل شی.

ومن الله التوفیق

د افغانستان تعلیمی مرکز

د مطالبو فهرست

شمارہ	عنوان	مخ
۱	تفسیر	۱
۲	تأویل	۱
۳	استعاذہ	۲
٤	تسمیہ	۲
۵	د قرآنکریم نزول	۳
٦	د قرآنکریم راټولول او ساتنه	۷
۷	د قرآنکریم د لیکلو طریقه	۸
۸	د فاتحې سورت	۹
۹	د القارعة سورت	۱۸
۱۰	د تکاثر سورت	۲۷
۱۱	د عصر سورت	۳٤
۱۲	د همزة سورت	۳۹
۱۳	د فیل سورت	٤۵
۱٤	د قریش سورت	۵۱
۱۵	د ماعون سورت	۵٤

شمارہ	عنوان	مخ
۱۶	د کوثر سورت	۵۹
۱۷	د کافرون سورت	۶۲
۱۸	د نصر سورت	۶۶
۱۹	د لهب سورت	۷۱
۲۰	د اخلاص سورت	۷۸
۲۱	د الفلق سورت	۸۴
۲۲	د الناس سورت	۹۲

تفسیر شریف

د اووم ټولګي لپاره

مؤلف : مولوي عبد الرحيم
ژباړونکی: قاضي نظرمحمد «نيازی»


لا إله إلا الله محمد رسول الله

تفسیر شریف

د اووم ټولګي لپاره

مؤلف : مولوي عبدالرحیم

ژباړونکی : قاضي نظرمحمد، نیازی،

بسم الله الرحمن الرحيم

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا

قَالَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت رسول اکرم صلی اللہ علیہ وسلم فرمائیلے دی۔

رَضِيْتُ

خوښ یم

بِاللّٰهِ رَبًّا

چې اللہ مورب دی۔

وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا

او اسلام مو دین دی۔

وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا وَرَسُوْلًا

او محمد صلی اللہ علیہ وسلم مو رسول او نبی دی۔

بسم الله الرحمٰن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَ الْاِنْسَانَ وَجَعَلَهُ اَکْرَمَ الْخَلَائِقِ بِالْعِلْمِ وَالْکَرَمِ وَجَعَلَ اُمَّةَ مُحَمَّدٍ خَیْرَ الْاُمَمِ وَاَمَرَهُمْ بِالدَّعْوَةِ وَالْاِرْشَادِ وَالْجِهَادِ الْمُعَظَّمِ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْاَنْبِیَاءِ وَمُعَلِّمِ الْبَشَرِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ.

په هیواد کی د سپیڅلی جهاد د پیل څخه را پدیخوا، استادانو، علماؤ او پوهانو، د شاگردانو د علمی اهدافو د تر سره کیدو او د اسلامی فرهنگ د ودی او پراختیا د پاره په مختلفو برخو کی او د پوهی له بنیګنو څخه د بنی ګټی اخیستنی پخاطر کاکه پاملرنه کړیده، او په دی توګه ئی د مهاجرت دناخوالو او بدو شرایطو سره سره دا خبره نړیوالو ته ثابته کړه چه د افغانستان غیور او قهرمان ملت وکولای شول د جهاد په تیرویو و لسو کلو کی د توری او قلم مبارزی ته یو دبل تر څنګه ادامه ورکړی. د افغانستان تعلیمی مرکز چه د مختلفو د نو جهادی تنظیمونو له پیاوړو غړو څخه تشکیل شو یدی په خپل وار سره هڅه کړی تر څو په هیواد کی د ننه د مدارسو د رسی پروګرامونه له و رځنیو شرایطو او علمی معیارونو سره سم ترتیب او د لړی دوری